# د یوحنا رسول مکاشفه

## د کتاب پېژندنه

د مکاشفې کتاب د یوحنا له خوا لیکل شوی دی. په دې مکاشفه کې عیسی مسیح یوحنا ته خپلې هغه رویاګانې وښودلې چې په راتلونکې کې به پېښې شي. دا مکاشفه د نوې لوظنامې د نورو کتابونو سره ډېر فرق لري، ځکه چې ډېرې برخې یې په استعارې او رمزي ژبه لیکل شوې دي چې ژورې او روحاني معنیګانې لري. نو د لوستلو په وخت کې باید ورته پام وشي ترڅو تحت‌الفظي معنی نه شي.

دا کتاب په اصل کې د عیسی مسیح د مرګ او بېرته راژوندي کېدلو نه وروسته د روم په امپراتورۍ کې د ځورول شویو مسیحیانو د تجربې په هکله خبرې کوي. خو د هغه وخت راهیسې مسیحیانو دا کتاب د خپلې ځورونې په شرایطو کې د لاربښوونې او ارامۍ دپاره تفسیر کړی دی، په داسې حال کې چې هغوی د عیسی مسیح د بېرته راتللو په انتظار دي چې په اخره زمانه کې به راځي.

دا لیکنې مسیحیانو ته هیله‌مندي ورکوي او هغوی هڅوي، ترڅو په خپل ایمان کې وفاداره پاتې شي. که څه هم د مکاشفې د کتاب د تفسیر په هکله ډول ډول نظرونه شتون لري، خو په دې کتاب کې یو شی د ټولو دپاره په پوره توګه ښکاره ده چې خدای د عیسی مسیح په وسیله په ټولو دښمنانو باندې بری مومي او هغه کسان چې عیسی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مسیح ته وفادار پاتې کيږي، په نوي اسمان او ځمکه یعنې جنت کې
به اجر ولري. خدای به د هغوی اوښکې پاکې کړي او ټولو غمونو ته
به يې د پای ټکی کيږدي.

## د موضوعګانو لست

د کتاب سریزه: ۱:۱–۸
لومړنی رویا او اووه کلیساګانو ته پیغامونه: ۱:۹ – ۳:۲۲
طومار او د اووه مهرونو ماتول: ۴:۱ – ۸:۵
د اووه سرنیو اوازونه: ۸:۶ – ۱۱:۱۹
ښامار او دوه ځناور: ۱۲ – ۱۳ فصلونه
د ځمکې او اسمان په هکله رویاګانې: ۱۴ – ۱۵ فصلونه
د خدای د قهر او غضب جامونه: ۱۶ فصل
د بابل سقوط، د شیطان، د جعلي پیغمبر او د ځناور ماتې: ۱۷:۱ – ۲۰:۱۰
وروستنی قضاوت: ۲۰:۱۱–۱۵
نوی اسمان او نوې ځمکه او نوی اورشلیم: ۲۱:۱ – ۲۲:۵
د عیسی راتلل: ۲۲:۶–۲۱

## لومړنی لیکنې

۱ ۱ دا د عیسی مسیح مکاشفه ده چې خدای هغه ته ورکړې
وه، ترڅو هغه پېښې چې ډېر زر باید رامنځته شي خپلو خدمتګارانو
ته وښایي. هغه دا مکاشفه خپل خدمتګار یوحنا ته د فرښتې د لېږلو
په وسیله ښکاره کړه. ۲ یوحنا چې هرڅه لیدلي وو هغه يې بیان
کړل چې دا د خدای د کلام او د عیسی مسیح په هکله شاهدي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکوي. ۳ بختور دی هغه څوک چې د دې کتاب پېشګويانې او
پيغامونه نورو ته په لوړ اواز لولي او بختور دي هغه خلک چې غوږ
ورته نيسي او هغه څه چې ليکل شوي دي عمل ورباندې کوي، ځکه
چې هغه وخت نژدې دی چې دا هرڅه به پېښ شي.

## اوو کليساګانو ته سلامونه

۴ د يوحنا له خوا هغو اوو کليساګانو ته چې د اسيا په ولايت کې
دي. په تاسو دې د هغه چا له خوا فضل او سلامتي وي چې هغه دی،
هغه ؤ او هغه راتلونکی دی او د هغو اوو روحونو له خوا چې د هغه
د پاچاهۍ د تخت په مخکې خدمت کوي، ۵ او د عيسی مسيح له
خوا چې وفادار شاهد دی او لومړنی زېږېدلی دی چې له مړو نه اول
راپاڅېده او د نړۍ د ټولو پاچاهانو سردار دی.

هغه زمونږ سره مينه کوي او په خپله وينه يې مونږ د خپلو ګناهونو نه
خلاص کړي يو. ۶ هغه مونږ پاچاهۍ ته ورسولو او زمونږ څخه
يې کاهنان جوړ کړل، ترڅو د هغه د خدای يعنې د هغه د پلار
خدمت وکړو. د هغه جلال او قدرت دې تل ترتله وي! امين.

۷ ګورئ، هغه په ورېځو کې راځي! هرڅوک به يې په خپلو
سترګو ووينې او حتی هغه خلک به يې هم ووينې چې هغه يې په
نېزې ووهه او د نړۍ ټول قومونه به په هغه باندې وير کوي. هو،
همداسې به وشي! امين.

۸ څښتن خدای وايي: «زه الف او يا يم. چې زه هغه څوک يم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې وم، یم او راتلونکی یم، یعنې مطلق قادر خدای.»

## یوحنا ته د عیسی مسیح ښکاره کېدل

۹ زه ستاسو ورور یوحنا او د عیسی پیرو یم چې په کړاوونو، د
خدای په پاچاهۍ او په صبر او زغم کې ستاسو سره شریک یم. زه د
خدای د کلام د موعظې او د عیسی په هکله د شاهدۍ د ورکولو په
خاطر د پاتموس په نوم جزیرې ته د سزا دپاره ولېږل شوم. ۱۰ دا
د څښتن ورځ وه او روح القدس زه تر خپلې اغېزې لاندې راوستلم،
بیا ما د شا له خوا د سرنې په شان یو لوړ اواز واورېد ۱۱ چې ماته
یې وویل: «څه چې وینې، هغه په یو کتاب کې ولیکه او هغو اووه
کلیساګانو یعنې د افسیس، اسمیرنا، پرګاموم، تیاتیرا، ساردیس،
فیلادلفیا او لاودیکیې کلیساګانو ته یې ولېږه.»

۱۲ ما خپل مخ راواړاوه چې ووینم دا څوک دی چې زما سره
خبرې کوي. په هغه وخت کې مې د سرو زرو اووه څراغدانونه
ولیدل. ۱۳ د هغو څراغدانونو په منځ کې د انسان په شان یو څوک
ؤ چې یوه اوږده چپنه یې اغوستې وه او د سرو زرو یوه پټۍ یې د
سینې څخه تاوه کړې وه. ۱۴ د سر وېښتان یې لکه د سپینې وړۍ
یا واورې په شان سپین وو او سترګې یې د اور د لمبو په شان وې،
۱۵ پښې یې د هغو صیقل شویو برنجو په شان چې په داش کې
پاک شوې وې، ځلېدلې او اواز یې لکه د تېزو اوبو د غرهار په شان
ؤ. ۱۶ هغه په خپل ښي لاس کې اووه ستورې نیولې وو او د خولې
نه یې دوه‌مخې تېره توره راوتلې وه او مخ یې لکه د تېز لمر په شان
ځلېده. ۱۷ کله چې ما هغه ولیده نو زه لکه د مړي په شان د هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په پښو کې پرېوتلم، خو هغه خپل ښي لاس په ما کېښود او ويې
ويل: «مه وېرېږه، زه اول او اخر يم. ۱۸ زه ژوندی يم، زه مړ شوم
او اوس تل ترتله ژوندی يم او د مرګ او قبر کيلي‌ګانې زما سره دي.
۱۹ نو څه چې دې ليدلي دي هغه وليکه، هغه څه چې اوس شته او
هغه څه چې وروسته به پېښ شي. ۲۰ د هغو اوو ستورو معنی او
پټ راز چې تا زما په ښي لاس کې ليدلي دي او د سرو زرو د
څراغدانونو معنی دا ده: هغه اووه ستوري د اوو کليساګانو فرښتې دي
او هغه اووه څراغدانونه اووه کليساګانې دي.»

## د افسيس کليسا ته د عيسی مسيح پيغام

۲ ۱ د افسيس د کليسا فرښتې ته وليکه:

«دا د هغه چا خبرې دي چې اووه ستوري يې په خپل ښي
لاس کې نيولي دي او د سرو زرو د اوو څراغدانونو په منځ
کې ګرځي.
۲ ستاسو کليسا چې کوم زحمتونه ويستلي دي زه د هغو
ټولو نه خبر يم. ما ستاسو زيار، صبر او زغم ليدلی دی. زه
پوهېږم چې تاسو بدکاره خلک زغملی نه شئ. تاسو هغه
خلک ازمايلي دي چې ځان ته رسولان وايي خو نه دي او
پوه شوي يئ چې هغوی دروغجن دي. ۳ زه پوهېږم چې
تاسو صبر او زغم لرئ، تاسو زما په خاطر ډېرې ستونزې
زغملې دي او ستومانه شوي نه يئ. ۴ خو زه ستاسو نه
يوه ګيله لرم چې تاسو خپله لومړنۍ مينه له لاسه ورکړې ده.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ خو په ياد ولرئ چې تاسو د څومره لوړ مقام نه
رالوېدلي يئ، نو توبه وباسئ او هغه کارونه کوئ چې مخکې
مو کول. که توبه ونه باسئ، نو زه به درشم او ستاسو
څراغدان به د خپل ځای نه لېرې کړم. ۶ خو په تاسو
کې يو ښه‌والی شته چې تاسو د نيکولاويانو د کارونو څخه
کرکه کوئ، لکه څنګه چې زه ورڅخه کرکه کوم.
۷ څوک چې غوږونه لري، نو څه چې روح القدس
کليساګانو ته وايي هغه ته دې غوږ ونيسي! څوک چې بريالی
شي، نو زه به ورته دا حق ورکړم چې د ژوندانه د ونې مېوه
چې په جنت فردوس کې ده وخوري.»

## د اسميرنا کليسا ته د عيسی مسيح پيغام

۸ د اسميرنا د کليسا فرښتې ته وليکه:

«دا د هغه چا خبرې دي چې اول او اخر دی، چې مړ شو او
بيا راژوندی شو.
۹ زه ستاسو د کليسا د کړاوونو او غريبۍ نه خبر يم، خو
په حقيقت کې تاسو شتمن يئ! زه د هغو خلکو د کفر ويلو
څخه خبر يم چې ځان ته يهوديان وايي خو نه دي، بلکې
هغوی د شيطان د کنيسې څخه دي. ۱۰ د کومو کړاوونو
سره چې مخامخ کېږئ، د هغو څخه مه وېرېږئ. ګورئ،
شيطان به ستاسو څخه ځينې زندانونو ته واچوي چې ومو
ازمايي او تر لسو ورځو پورې به ځورېږئ، خو تر مرګه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پورې وفادار پاتې شئ او زه به تاسو ته د ژوندون تاج
درکړم.
١١ څوک چې غوږونه لري، نو څه چې روح القدس
کليساګانو ته وايي هغه ته دې غوږ ونيسي. څوک چې بريالی
شي، نو هغه به د دوهم مرګ عذاب ونهويني.»

## د پرګاموم کليسا ته د عيسی مسيح پيغام

١٢ د پرګاموم د کليسا فرښتې ته وليکه:

«دا د هغه چا خبرې دي چې دوه‌مخې تېره توره لري.
١٣ زه خبر يم چې تاسو چېرته اوسئ. ستاسو کليسا په
هغه ځای کې ده چې د شيطان تخت په کې دی. خو بياهم
زما نوم ته وفادار پاتې شوئ. تاسو خپل ايمان له لاسه ورنه
کړ، حتی په هغه وخت کې چې زما وفادار شاهد انتيپاس
ستاسو په ښار يعنې هغه ځای کې چې شيطان په کې
اوسيږي، شهيد شو. ١۴ خو زه ستاسو نه يو څو ګيلې لرم:
په تاسو کې ځينې خلک شته چې د بلعام د تعليم څخه
پيروي کوي. هغه بلعام ؤ چې بالاق ته يې ورزده کړل چې
څنګه اسراييليان بې‌لارې کړي او هغوی وهڅوي چې هغه
خواړه وخوري چې بتانو ته وړاندې شوي وو او زنا وکړي.
١۵ همدارنګه ستاسو په منځ کې داسې خلک شته چې د
نيکولاويانو د تعليم څخه پيروي کوي. ١۶ نو توبه وباسئ،
که نه نو ډېر زر به درشم او په هغې توري به د هغوی سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جنګ وکړم چې زما د خولې څخه راوځي.
١٧ څوک چې غوږونه لري نو څه چې روح القدس
کليساګانو ته وايي، هغو ته دې غوږ ونيسي! څوک چې
بريالی شي، نو زه به هغه ته هغه د من ډوډۍ چې په اسمان
کې پټه ده، ورکړم او يوه سپينه تيږه به ورته ورکړم چې په
هغې باندې به يو نوی نوم ليکل شوی وي چې هېڅوک به د
هغې په معنی باندې پوه نه شي، خو پرته له هغه چا څخه
چې تيږه لاسته راوړي.»

## د تياتيرا کليسا ته د عيسی مسيح پيغام

١٨ د تياتيرا د کليسا فرښتې ته وليکه:

«دا د خدای د زوی خبرې دي چې د هغه سترګې د اور د
لمبو په شان او پښې يې د برنجو په شان ځلېدلې.
١٩ ستاسو کليسا چې کوم کارونه کړي دي زه د هغو ټولو
نه خبر يم. او ستاسو د مينې، ايمانداری، خدمت او ستاسو د
صبر او زغم نه خبر يم او پوهېږم چې ستاسو اوسني کارونه
د پخوانيو کارونو څخه ډېر ښه شوي دي. ٢٠ خو زه
ستاسو نه يوه ګيله لرم: تاسو هغې ښځې ته چې لکه ايزابل
ده او ځان پيغمبره ګڼي، اجازه ورکړې چې په خپل تعليم
سره زما خدمتګاران بې‌لارې کړي، ترڅو هغوی زنا وکړي
او هغه خواړه وخوري چې بتانو ته وړاندې شوي وو. ٢١
ما هغې ته د توبې ويستلو وخت ورکړ، خو هغه نه غواړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د زناکارۍ نه لاس واخلي. ۲۲ زه به هغه د مریضۍ
په کټ باندې واچوم او هغه کسان چې د هغې سره یې زنا
کړې ده، په مصیبت اخته کړم او تر هغې پورې به سخت
ځوریږي، ترڅو یې د خپلو کارونو څخه چې د هغې سره یې
کړي دي، توبه نه وي ویستلې. ۲۳ زه به د هغې اولادونه
ووژنم. په دې کار به ټولې کلیساګانې پوه شي چې زه د
انسانانو د فکرونو او زړونو څخه خبر یم او زه به تاسو هر
یو ته د خپلو عملونو له مخې بدل درکړم.
۲۴ خو زه تاسو او نورو کسانو ته چې په تیاتیرا کې دي،
وایم: تاسو دا تعلیم نه دی قبول کړی او هغه شیان مو نه دي
زده کړي چې هغوی ورته د شیطان ژور رازونه وایي. زه به
په تاسو باندې نور بار وانه‌چوم، ۲۵ خو په هر حال ترڅو
چې زه راځم تاسو باید په هغه تعلیم باندې چې درکړل
شوی دی، ټینګ ودریږئ. ۲۶ څوک چې بریالی شي او تر
اخره پورې زما په حکمونو باندې عمل وکړي، زه به هغه ته
واک او اختیار ورکړم چې په ټولو قومونو باندې حکومت
وکړي. ۲۷ هغه به ورباندې د اوسپنې په امسا حکومت
کوي او د خاورینو لوښو په شان به یې ټوټې ټوټې کړي.
۲۸ لکه څنګه چې ما د خپل پلار له خوا دا واک او
اختیار ترلاسه کړی دی، زه به هغه ته د سهار ستوری
ورکړم.
۲۹ څوک چې غوږونه لري، نو څه چې روح القدس یې
کلیساګانو ته وایي، هغو خبرو ته دې غوږ ونیسي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ساردیس کلیسا ته د عیسی مسیح پیغام

۳ ۱ د ساردیس د کلیسا فرښتې ته ولیکه:

«دا د هغه چا خبرې دي چې د خدای اووه روحونه او اووه
ستوري ورسره دي چې د خدای خدمت کوي.
زه ستاسو د کلیسا د ټولو کارونو څخه خبر یم، تاسو تش په
نامه ژوندي يئ، خو تاسو مړه يئ. ۲ بېداره شئ او هغه
څه چې په تاسو کې پاتې دي او د مړه کېدلو په حال کې
دي هغه قوي کړئ، ځکه چې ما ستاسو یو کار هم ونه لیده
چې د خدای په نظر کې کامل وي. ۳ تاسو چې کوم څه
زده کړي او اورېدلي دي، هغه په یاد ولرئ، عمل پرې وکړئ
او توبه وباسئ. که تاسو بېدار نه شئ، نو زه به لکه د غله په
شان ناڅاپه درشم او تاسو به خبر نه شئ چې زه څه وخت
راغلم. ۴ خو بیاهم ستاسو سره په ساردیس کې ځینې
خلک شته چې خپل کالي یې په بدیو چټل کړي نه دي.
هغوی به په سپینو کالیو کې زما سره ګرځي، ځکه چې د دې
لایق دي. ۵ هرڅوک چې بریالی شي، نو همداسې سپین
کالي به ورته واغوستل شي او زه به هېڅکله د هغه نوم د
ژوندون د کتاب نه لیرې نه کړم، بلکې زه به د خپل پلار او د
هغه د فرښتو په حضور کې اقرار وکړم چې هغه زما دی.
۶ څوک چې غوږونه لري، نو څه چې روح القدس
کلیساګانو ته وایي، هغو خبرو ته دې غوږ ونیسي!»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د فيلادلفيا کليسا ته د عيسی مسيح پيغام

٧ د فيلادلفيا د کليسا فرښتې ته وليکه:

«دا د هغه چا خبرې دي چې هغه سپېڅلی او رښتينی دی او
دا هغه څوک دی چې د داود د پاچاهۍ کيلي ورسره ده، هغه
چې کومه دروازه خلاصه کړي، نو هېڅوک نه شي کولای
چې هغه بنده کړي او کومه دروازه چې بنده کړي، نو
هېڅوک يې نه شي خلاصولی.
٨ ستاسو کليسا چې کوم کارونه کړي دي زه د هغو ټولو
نه خبر يم. ګوره، ما ستاسو په مخ يوه دروازه خلاصه کړې
ده چې هېڅوک يې بندولی نه شي. زه پوهېږم چې تاسو
کمزوري يئ، خو تاسو زما په کلام باندې عمل کړی دی او
زما د نوم نه منکر شوي نه يئ. ٩ ګورئ، زه به هغه
کسان چې د شيطان د کنيسې څخه دي او ځانونه يهوديان
بولي، خو هغوی يهوديان نه دي او دروغ وايي، راولم او
ستاسو پښو ته به پرېوځي او هغوی به پوه شي چې تاسو
راباندې ګران يئ. ١٠ په دې خاطر چې تاسو په صبر او
زغم سره زما په کلام باندې عمل کړی دی، نو زه به هم
تاسو د ازمېښت د هغه ساعت نه وساتم چې د نړۍ په ټولو
خلکو باندې به راځي. ١١ زه زر راځم. نو څه چې درسره
دي هغه ټينګ وساتئ، ترڅو هېڅوک ونه شي کولای ستاسو
تاج واخلي. ١٢ څوک چې بريالی شي، نو زه به د هغه نه
د خپل خدای د کور ستنه جوړه کړم او هغه به هېڅکله د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ځای څخه دباندې ونه وځي. زه به په هغه باندې د خپل
خدای نوم ولیکم او د خپل خدای د ښار یعنې نوي اورشلیم
نوم چې د اسمان نه د خدای له خوا راښکته کیږي، ولیکم او
همدارنګه خپل نوی نوم به په هغه باندې ولیکم.
١٣ څوک چې غوږونه لري، نو څه چې روح القدس
کلیساګانو ته وایي، هغو خبرو ته دې غوږ ونیسي!»

## د لاﺋیودیکیې کلیسا ته د عیسی مسیح پیغام

١۴ د لاﺋیودیکیې د کلیسا فرښتې ته ولیکه:

«دا د هغه چا خبرې دي چې امین دی، هغه وفادار او
رښتینی شاهد دی او د خدای د پیدایښت پیل دی.
١۵ ستاسو کلیسا چې کوم کارونه کړي دي زه د هغو ټولو
نه خبر یم. زه پوهېږم چې تاسو نه ساړه یئ او نه تاوده،
بلکې نیمګړي یئ. کاشکې چې تاسو تاوده یا ساړه وای،
١۶ خو دا چې تاسو نه تاوده یئ او نه ساړه، بلکې
نیمګړي یئ. نو زه به تاسو د خپلې خولې نه دباندې
وغورځوم. ١٧ ځکه تاسو وایئ: ‹مونږ شتمن یو، مونږ
هرڅه لرو او هېڅ شي ته اړتیا نه لرو،› خو تاسو نه پوهېږئ
چې تاسو بدبخته، بېچاره، غریب،ړانده او لوڅ یئ. ١٨ زه
تا ته مشوره درکوم چې زما څخه داسې سره زر واخله چې
په اور کې پاک شوي دي چې شتمن شې، سپین کالي راځخه
واخله چې ته یې واغوندې چې د لوڅوالي شرم دې پټ شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د سترګو ملهم راڅخه واخله چې په لګولو سره يې ستا
سترګې بينا شي. ۱۹ زه هغه څوک رټم او اصلاح کوم چې
په ما ګران وي، نو غيرتمند اوسئ او توبه وباسئ. ۲۰
ګورئ، زه په دروازه کې ولاړ يم او هغه ټکوم. که څوک زما
اواز اوري او دروازه خلاصه کړي، نو زه به ورننوځم. زه به
د هغه سره او هغه به زما سره ډوډۍ وخوري. ۲۱ څوک
چې بريالی شي، نو زه به ورته دا حق ورکړم چې زما سره
زما په تخت باندې کېنېني، لکه څنګه چې زه بريالی شوم او
د خپل پلار سره په تخت باندې کېنېناستم.
۲۲ څوک چې غوږونه لري، نو څه چې روح القدس
کليساګانو ته وايي، هغو خبرو ته دې غوږ ونيسي!»

## په اسمان کې عبادت

۴ ۱ له هغې وروسته ما وکتل او په اسمان کې مې يوه پرانيستې
دروازه وليدله. بيا مې يو اواز چې مخکې يې زما سره خبرې کړې
وې او د سرني د اواز په شان ؤ، واورېد چې ويې ويل: «پورته راشه،
زه به تاته وښايم چې له دې وروسته به څه پېښېږي.» ۲
سمدلاسه روح القدس زه تر خپلې اغېزې لاندې راوستلم او په
اسمان کې مې يو تخت وليده او په هغه تخت باندې يو څوک ناست
ؤ. ۳ هغه څوک چې هلته ناست ؤ، د لعل او سرو عقيقو د تيږو په
شان ځلېده او د تخت ګردچاپېره د بوډۍ ټال ؤ چې د زمردو په شان
ځلېده. ۴ د تخت ګردچاپېره نور څلورويشت تختونه وو او په
هغو باندې څلورويشت مشران ناست وو چې سپين کالي يې اغوستي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو او د سرو زرو تاجونه يې په سر وو. ۵ د هغه تخت څخه
برېښنا، غرهار او د تندر اوازونه راتلل. د تخت په مخکې اووه
سوځېدونکي څراغونه بلېدل. هغه د خدای اووه روحونه دي چې د
خدای خدمت کوي. ۶ همدارنګه د هغه تخت په مخکې يوه
بحيره وه چې د بلور د ښيښې په شان ښکاره کېده.

د تخت ګردچاپېره او هرې خواته يې څلور اسماني مخلوقات وو
چې مخکې او شاته يې ډېرې سترګې لرلې. ۷ لومړنی اسماني
مخلوق د زمري په شان ؤ، دوهم يې د غويي په شان، درېم يې د
انسان په شان څېره لرله او څلورم يې د عقاب په شان ؤ چې د
الوتلو په حال کې وي. ۸ دغو څلورو اسماني موجوداتو هر يو
شپږ وزرونه لرل او هرې خواته يې ډېرې سترګې لرلې او شپه او ورځ
به يې بې له کوم ځنډه ويل:

سپېڅلی، سپېڅلی، سپېڅلی دی

مطلق قادر څښتن خدای

چې هغه ؤ او هغه دی

او دی راتلونکی هغه

۹ هرکله چې هغه اسماني موجودات هغه چاته چې په تخت
باندې ناست دی او تل ترتله به ژوندی وي، جلال او عزت ورکوي
او شکرګزاري يې کوي، ۱۰ نو هغه څلورويشت مشران هم هغه ته
چې په تخت باندې ناست دی او تل ترتله ژوندی دی په سجده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرېوځي او عبادت يې کوي. هغوی خپل تاجونه د تخت په مخکې
ږدي او وايي:

١١ ای زمونږ ښښتنه، ای زمونږه خدايه

ته لايق يې د جلال او د عزت او قدرت

ځکه چې ټول شيان پيدا کړل تا

په ارادې د ستا پيدا شول هغه

او په وجود کې راغلل

## طومار او وری

۵ ١ بيا ما د هغه کس په ښي لاس کې چې په تخت باندې
ناست ؤ، يو طومار وليده چې دننه او دباندې دواړو خواوو باندې يې
ليکنه شوې وه او اووه مهرونه ورباندې لګېدلي وو. ٢ ما يوه قوي
فرښته وليدله چې په لوړ اواز يې اعلان کاوه: «څوک د دې لايق دی
چې طومار خلاص کړي او مهرونه يې مات کړي؟» ٣ خو نه په
اسمان کې، نه په ځمکه او نه هم د ځمکې لاندې داسې څوک ؤ چې
وکولای شي هغه طومار خلاص کړي او يا يې دننه وګوري. ٤ ما
سخت وژړل، ځکه چې هېڅوک هم د دې لايق نه ؤ چې هغه طومار
خلاص کړي او دننه يې وګوري. ٥ خو د مشرانو څخه يو يې
راته وويل: «نور مه ژاړه، ځکه چې د يهودا د قبيلې هغه زمری چې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داود د نسل څخه دی، بریالی شوی دی چې طومار خلاص کړي او
اووه مهرونه يې مات کړي.»

۶ بیا ما د تخت ترمنځ او څلورو اسماني موجوداتو او مشرانو په
منځ کې ولیدل چې یو وری ولاړ دی او داسې معلومېده چې حلال
شوی وي. هغه وري اووه ښکرونه او اووه سترګې لرلې چې هغه د
خدای اووه روحونه وو چې ټولې نړۍ ته لېږل شوي دي. ۷ هغه
وری راغی او په تخت باندې د ناست کس د ښي لاس نه يې هغه
طومار واخیست. ۸ څنګه چې يې هغه طومار واخیست، نو هغه
څلور اسماني موجودات او څلورویشت مشران د وري په مخکې په
سجده شول. د هر مشر سره یو چنګ او د خوشبويۍ نه ډک د سرو
زرو جامونه وو چې د خدای د خلکو دعاګانې دي. ۹ هغوی یوه
نوې سندره ویله:

ته لایق يې د دې چې طومار واخلې

او مهرونه يې مات کړې

ځکه چې ته يې حلال شوی

او په خپله وینه دې د خدای دپاره

په بیه واخیستل خلک

د هرې قبیلې، هرې ژبې،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هر قوم او هر ملت څخه

١٠ تا کړه جوړه د هغوی څخه

شاهي کورنۍ او کاهنان د خدای

او پاچاهي به کوي هغوی په ځمکه باندې

١١ یوځل بیا مې وکتل او د زرګونو او میلیونونو فرښتو اوازونه مې
واورېدل چې د تخت او اسماني مخلوقاتو او مشرانو نه ګردچاپېره
ولاړې وې. ١٢ هغوی په لوړ اواز سره ویل:

د دې لایق دی حلال شوی وری

چې ترلاسه کړي قدرت، شتمني، حکمت،

زور، عزت او جلال

او ثنا او صفت یې وشي

١٣ بیا ما واورېدل چې هغو ټولو مخلوقاتو چې په اسمان، ځمکه،
د ځمکې لاندې او په بحر کې دي ویل:

هغه چاته چې په تخت باندې دی ناست او وري ته

ثنا او صفت، عزت، جلال او قدرت دې وي تل ترتله ورته!

١٤ او هغو څلورو اسماني مخلوقاتو وویل: «امین!» او مشران په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سجده پرېوتل او د خدای او وري عبادت يې وکړ.

## د اوو مهرونو ماتول

**۶** ۱ بيا مې وليدل چې وري د هغو اوو مهرونو څخه يو مهر
مات کړ. له هغې وروسته مې د هغو څلورو اسماني موجوداتو څخه د
يو اواز چې د تندر په شان ؤ، واورېد چې ويل يې: «راشه!» ۲ ما
وکتل او ومې ليدل چې هلته يو سپين اس ؤ او د هغه کس سره چې
ورباندې سپور ؤ يوه لينده وه او هغه ته يو تاج ورکړل شو او هغه
ووت چې برى ومومي.

۳ کله چې وري دوهم مهر مات کړ، نو ما واورېدل چې دوهم
ژوندي مخلوق ويل: «راشه!» ۴ يو بل اس راووت چې تک سور
رنګ يې درلود او په هغه باندې سپاره کس ته قدرت ورکړل شو چې
د ځمکې د مخ نه سوله او ارامي يوسي، ترڅو خلک يو بل سره
ووژني. هغه ته يوه غټه توره ورکړل شوه.

۵ کله چې وري درېم مهر مات کړ، نو ما واورېدل چې درېم
اسماني موجود ويل: «راشه!» ما وکتل او يو تور اس مې وليده او په
هغه باندې د سپور کس په لاس کې يوه ترازو وه. ۶ د هغو
څلورو اسماني موجوداتو له منځ نه مې يو اواز واورېد چې ويل يې:
«د يو مزدور ورځنى مزدوري به يو کيلو غنم او يا درې کيلو اوربشې
وي. خو د زيتون ونې او د انګورو تاک ته زيان مه رسوئ.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ کله چې وري څلورم مهر مات کړ، نو ما واورېدل چې څلورم
اسماني موجود ویل: «راشه!» ۸ ما وکتل او ومې لیدل چې هلته
یو اس ؤ چې رنګ یې زیړ ؤ او څوک چې په هغه اس باندې سپور
ؤ د هغه نوم مرګ ؤ او قبر ورپسې ډېر نژدې روان ؤ. هغوی ته د
ځمکې د څلورمې برخې واک او اختیار ورکړل شوی ؤ چې په توره،
قحطۍ، د طاعون په ناروغۍ او ځنګلي ځناورو باندې خلک مړه
کړي.

۹ کله چې وري پنځم مهر مات کړ، نو ما د قربانۍ د ځای لاندې
د هغو خلکو روحونه ولیدل چې د خدای د کلام او په خپلې شاهدۍ
کې د وفادارۍ په خاطر وژل شوي وو. ۱۰ هغوی په لوړ اواز ناري
کړې: «ای څښتن تعالی، سپېڅلی او رښتینی خدایه! ترڅو پورې به د
نړۍ د خلکو په هکله قضاوت نه کوې او د هغوی څخه به زمونږ د
وینې بدل نه اخلې؟» ۱۱ هغوی هر یو ته سپینه چپنه ورکړل شوه
او ورته وویل شول چې تر هغې پورې لږ نور صبر وکړئ، ترڅو
ستاسو د ورونو او د خدای د نورو خدمتګارانو شمېر چې ستاسو په
شان باید ووژل شي، پوره شي.

۱۲ بیا ما وکتل او ومې لیدل چې وري شپږم مهر مات کړ او یوه
سخته زلزله وشوه او لمر د وير د کالیو په شان تور شو او سپوږمۍ
لکه د وینې په شان سره شوه. ۱۳ ستوري د اسمان نه داسې
راولوېدل لکه څنګه چې خام انځران د سخت باد له امله د ونې نه په
ځمکه رالوېږي ۱۴ او اسمان داسې فنا شو لکه څنګه چې طومار
سره تاو او راتاو شي او هر غر او هره جزیره له خپله ځایه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخوځېدله. ۱۵ نو بیا د ځمکې پاچاهانو، حاکمانو، قومندانانو،
شتمنو، زورواکانو او ټولو خلکو که هغه غلامان وو یا ازاد، خپل
ځانونه په غارونو او د غرونو د ګټانو په منځ کې پټ کړل. ۱۶
هغوی غرونو او ګټانو ته غږ وکړ: «په مونږ راولوېږئ او د هغه کس
له نظره چې په تخت باندې ناست دی او د وري له غضب نه مو پټ
کړئ. ۱۷ ځکه چې د خدای او د وري د لوی غضب ورځ
رارسېدلې ده، څوک کولای شي د هغه په وړاندې ودرېږي؟»

## یو لک او څلورڅلوېښت زره اسراییلیان

۷ ۱ له دې نه وروسته مې څلور فرښتې ولیدلې چې د ځمکې
په څلورو کنجونو کې ولاړې وې او د څلور واړو بادونو مخه یې
نیولې وه، ترڅو په ځمکه، بحر او یا په کومه ونه باندې ونه لګېږي.
۲ بیا ما بله فرښته ولیدله چې د لمرخاته خوا نه راپورته کېدله او
د ژوندي خدای مهر ورسره ؤ او په لوړ اواز یې هغو څلورو فرښتو
ته نارې ووهلې چې دا اختیار ورته ورکړل شوی ؤ چې ځمکې او
بحر ته زیان ورسوي. ۳ هغې فرښتې وویل: «ترڅو پورې چې
مونږ د خدای د خدمتګارانو په تندیو باندې مهر نه وي لګولی، تر
هغې پورې ځمکې، بحر یا ونو ته زیان ونه رسوئ.» ۴ بیا مې
واورېده چې د هغو کسانو شمېر چې په تندیو باندې یې مهر لګېدلی
ؤ، ۱۴۴۰۰۰ تنه ؤ. هغوی د اسراییلو د ټولو قبیلو څخه وو.

۵ دولس زره د یهودا د قبیلې څخه
دولس زره د روبین د قبیلې څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دولس زره د جاد د قبیلې څخه

۶ دولس زره د اشیر د قبیلې څخه

دولس زره د نفتالي د قبیلې څخه

دولس زره د منسي د قبیلې څخه

۷ دولس زره د شمعون د قبیلې څخه

دولس زره د لاوي د قبیلې څخه

دولس زره د ایساکار د قبیلې څخه

۸ دولس زره د زبولون د قبیلې څخه

دولس زره د یوسف د قبیلې څخه

دولس زره د بنیامین د قبیلې څخه.

## د ټولو قومونو یوه لویه ګڼه‌ګوڼه

۹ له دې وروسته مې وکتل او د خلکو یوه لویه ګڼه‌ګوڼه مې
ولیدله چې هېڅوک نه شو کولای هغه وشمېري. د ټولو ملتونو، قبیلو،
قومونو او ژبو نه خلک د تخت په مخکې او د وري په وړاندې ولاړ
وو. هغوی سپینې چپنې اغوستې وې او د خرما د ونو ښاخونه یې په
لاس کې وې، ۱۰ او په لوړ اواز یې نارې وهلې: «زموږ خلاصون
د خدای له خوا دی چې په تخت باندې ناست دی او د وري له خوا
دی.» ۱۱ ټولې فرښتې د تخت، د مشرانو او څلور اسماني
موجوداتو ګردچاپېره ولاړې وې، او بیا د تخت په مخکې پړمخې
پرېوتلې او د خدای عبادت یې وکړ ۱۲ هغوی ویل:

امین! ثنا او صفت او جلال

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حکمت او شکرګزاري

عزت، قدرت او قوت دې وي

تل ترتله زمونږ د خدای، امين!

۱۳ بيا د مشرانو څخه يو تن زما څخه پوښتنه وکړه: «دا خلک
چې سپينې چپنې يې اغوستې دي څوک دي او له کوم ځای نه
راغلي دي؟» ۱۴ ما ځواب ورکړ: «ښاغليه، ته پوهېږې.» بيا هغه
راته وويل: «دا هغه کسان دي چې د سخت مصيبت څخه تېر شوي
دي. هغوی خپلې چپنې د وري په وينو وينځلې او سپينې کړې دي.

۱۵ له دې امله دي ولاړ هغوی

د خدای د تخت په مخکې

او شپه او ورځ کوي خدمت د هغه کور کې

چې په تخت باندې ناست دی هغه څوک

په خپل شتون کې به پناه ورکړي هغوی ته

او کوي ساتنه به يې

۱۶ نور به هېڅکله نه وږي کيږي هغوی

او هم تږي کيږي به نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زیان به ونه رسوي دوی ته

نه لمر او نه سوځوونکې ګرمي

۱۷ ځکه هغه وری چې دی د تخت په منځ کې

هغه به کړي د دوی شپونتوب

او د ژوندون د اوبو چینو ته به بیایي هغوی

او خدای به پاکې ټولې اوښکې کړي

د هغوی له سترګو څخه»

## اووم مهر

۸ ۱ کله چې وري اووم مهر مات کړ، نو د نیم ساعت دپاره په
اسمان کې کراره کراري وه. ۲ بیا ما اووه فرښتې ولیدلې چې د
خدای په مخکې ولاړې وې او هغوی ته اووه سرنې ورکړل شول.
۳ بیا یوه بله فرښته چې د خوشبويي د سوځولو د سرو زرو
لوښی ورسره ؤ، راغله او د قربانۍ د ځای سره ودرېدله. هغې ته ډېره
زیاته خوشبويي ورکړل شوه چې د خدای د خلکو په دعا سره يې د
سرو زرو د قربانۍ په ځای باندې چې د تخت په مخکې وه، وړاندې
کړي. ۴ د خوشبويۍ لوګی د خدای د خلکو په دعا سره د فرښتې
د لاس نه پورته د خدای حضور ته لاړ. ۵ بیا فرښتې هغه د
خوشبويۍ لوښی راواخیست او د قربانۍ د ځای د اور نه يې ډک کړ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په ځمکه يې راګوزار کړ. بيا د تندر غږ، غړمبار، برېښنا او زلزله راغله.

## د سرنيو اوازونه

۶ بيا هغه اووه فرښتې چې اووه سرني ورسره وو، د سرنيو وهلو ته تيارې شولې. ۷ کله چې لومړنۍ فرښتې خپل سرنی وواهه، نو اور او ږلۍ د وينې سره په ځمکه راووروېدلې او د ځمکې درېمه برخه او د ونو درېمه برخه يې وسوځوله او ټول شنه واښه وسوځېدل.

۸ بيا دوهمې فرښتې خپل سرنی وواهه او لکه د يو لوی غره په شان يو شی چې اور ورباندې بل ؤ، بحر ته وغورځول شو او د بحر درېمه برخه په وينو بدله شوه. ۹ په بحر کې درېمه برخه ژوندي مخلوقات مړه شول او د کشتيګانو درېمه برخه په بحر کې له منځه لاړلې.

۱۰ بيا درېمې فرښتې خپل سرنی وواهه نو د اسمان نه يو غټ ستوری چې د څراغ په شان بلېده، د سيندونو او چينو په درېمه برخه باندې راولوېد. ۱۱ د هغه ستوري نوم افسنتين دی چې د تريخوالي معنی لري او د اوبو درېمه برخه ترخې شوې او ډېر خلک د دې ترخو اوبو د څښلو له امله مړه شول.

۱۲ بيا څلورمې فرښتې خپل سرنی وواهه، نو د لمر، سپوږمۍ او ستورو درېمه برخه يې داسې ووهله چې د هغو درېمه برخه تياره شوه او د ورځې د رڼا او د شپې د رڼا درېمه برخه له منځه لاړه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ بیا مې کتل او د یو عقاب اواز مې واورېد چې په اسمان کې
الوته او په لوړ اواز يې ویل: «بلا، بلا او بلا د ځمکې په اوسېدونکو
باندې، ځکه چې اوس به درې نورې فرښتې خپل سرنې ووهي.»

۹ ۱ بیا پنځمې فرښتې خپل سرنی وواهه او ما یو ستوری ولیده
چې د اسمان نه ځمکې ته راولوېد او هغه ستوري ته د ځمکې د تل
د لارې کیلي ورکړل شوې وه. ۲ هغه په دې کیلي باندې د
ځمکې د تل لاره خلاصه کړه او د هغې کندې نه د یو لوی داش د
لوګي په شان لوګی راپورته شو او لمر او هوا د هغه داش د لوګي له
امله تیاره شوه. ۳ بیا د لوګي نه ځمکې ته ملخان راووتل او
هغوی ته لکه د لړمانو په شان قدرت ورکړل شو. ۴ هغوی ته
وویل شول چې واښو، ونو او بوټو ته زیان ونه رسوي، بلکې یوازې
هغو خلکو ته زیان ورسوي چې د هغو په تندیو باندې د خدای مهر
نه وي لګېدلی. ۵ ملخانو ته اجازه ورکړل شوه چې هغه خلکو ته
پنځه میاشتې عذاب ورکړي، داسې عذاب چې د لړم د چیچلو په
شان وي، خو د هغوی د وژلو اجازه ورته نه وه ورکړل شوې. ۶
په هغو ورځو کې به دغه کسان مرګ وغواړي خو مرګ به ورته نه
راځي. هغوی به د مرګ په ارمان وي، خو مرګ به ورڅخه تښتي.

۷ دا ملخان د هغو اسونو په شان ښکاره کېدل چې جنګ ته تیار
وي. د هغوی په سرونو باندې د سرو زرو په شان تاجونه وو او
مخونه يې د انسان د مخونو په شان وو. ۸ د هغوی ویښتان د
ښځو د ویښتانو په شان وو او غاښونه يې د زمریو د غاښونو په شان
وو. ۹ هغوی لکه د اوسپنې ښخه جوړ شویو زغرو کالي اغوستې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو او د هغوی د وزرونو اواز د اسونو او ډېرو جنګي ګاډيو د غړمبار
په شان ؤ چې د جنګ میدان ته ځغلي. ۱۰ د هغوی لکۍګانو لکه د
لړمانو د لکیو په شان نېشونه لرل چې د دې قدرت يې درلود چې په
خپلو لکۍګانو سره پنځه میاشتې خلک وځوروي. ۱۱ د هغوی
پاچا یوه فرښته وه چې د ځمکې د تل د کندې مشره وه چې په
عبراني ژبه کې د هغې نوم ابدون او په یوناني ژبه کې آپولیون ؤ چې
معنی يې تباه کوونکې دی. ۱۲ یوه بلا تېره شوه او دوه نورې شته
چې راتلونکې دي.

۱۳ بیا شپږمې فرښتې خپل سرنی وواهه او یو اواز مې واورېد چې
د سرو زرو د قربانۍ د ځای د څلورو کونجونو څخه چې د خدای په
حضور کې ؤ، راووت. ۱۴ هغه اواز شپږمې فرښتې ته چې سرنی
ورسره ؤ، وویل: «د لوی فرات د سیند نه هغه څلور تړل شوې
فرښتې ازادې کړه.» ۱۵ نو هغه څلور فرښتې ازادې شوې چې د
درېمې برخې انسانانو د وژلو دپاره د دې کال، د دې میاشتې، د دې
ورځې او د دې ساعت دپاره تیارې کړای شوې وې. ۱۶ ما د
سپرو لښکرو شمېر واورېد چې دوه سوه میلیونه وو. ۱۷ ما په رویا
کې اسونه او په هغو باندې سپاره کسان ولیدل. سپرو کسانو د اور په
شان سرې، اسماني رنګه او د ګوګړو په شان زیړې زغرې اغوستې
وې. د اسونو سرونه يې د زمریو د سرونو په شان وو او د خولې نه
يې اور، لوګی او د ګوګړو لمبې راوتلې. ۱۸ د دې درېو بلاګانو
یعنې اور، لوګي او ګوګړو په وسیله چې د هغوی د خولې نه راوتل،
درېمه برخه انسانان مړه شول. ۱۹ ځکه چې د اسونو قوت د
هغوی په خولو او لکۍګانو کې ؤ. د هغوی لکۍګانې د مارانو په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وي چې په خپلو سرونو باندې يې خلک ټپي کول.

٢٠ پاتې انسانان چې د دې بلاګانو په وسيله نه وو وژل شوي، د
خپلو عملونو نه توبه ونه ويستله او هغوی د پېريانو او بتانو د عبادت
څخه لاس وانخيست چې د سرو زرو، سپينو زرو، برنجو، تيږو او
لرګيو څخه جوړ شوي وو او نه يې شو کولای ووينې، واوري او
وګرځي. ٢١ همدارنګه هغوی د قتل، جادوګری، زناکارۍ او غلا نه
توبه ونه ويستله.

## فرښته او کوچنی طومار

١٠ ١ بيا ما يوه بله قوي فرښته وليدله چې د اسمان څخه
راښکته کېدله، هغه په ورېځو باندې پوښل شوې وه او په سر باندې
يې د بوږۍ ټال ؤ. څېره يې د لمر په شان ځلېدله او پښې يې د اور د
پايو په شان وې. ٢ د هغې په لاس کې يو کوچنی طومار ؤ چې
پرانيستل شوی ؤ. هغې خپله ښي پښه په بحر کې او چپه پښه په
ځمکه کېښودله. ٣ هغې د زمري د غړمبار په شان په لوړ اواز
چيغه ووهله او کله چې هغې چيغې کړې نو اووه تندرونه وغرېدل.
٤ کله چې هغه اووه تندرونه وغرېدل، نو ما غوښتل چې يو څه
وليکم، خو د اسمان نه يو اواز راغی چې ويل يې: «څه چې هغو اووه
تندرونو ويلي دي هغه پټ وساته او هغه مه ليکه.»

٥ بيا ما هغه فرښته چې په بحر او وچه ځمکه باندې ولاړه وه
وليدله، هغې خپل ښي لاس اسمان ته پورته کړ ٦ او د هغه چا په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نوم يې قسم وخوړ چې تل ترتله ژوندی دی او اسمان، ځمکه، بحر
او هرڅه چې په هغو کې دي پيدا کړي دي. هغې وويل: «نور به ځنډ
رامنځته نه شي! ۷ خو په هغه وخت کې کله چې اوومه فرښته
خپل سرنی ووهي، نو د خدای پټ راز به پوره شي، لکه څنګه چې
هغه خپلو خدمتګارانو يعنې پيغمبرانو ته ويلي وو.»

۸ بيا ما يوځل بيا هغه اواز واورېد چې د اسمان نه يې زما سره
خبرې کولې او ويل يې: «لاړ شه او د هماغې فرښتې د لاس نه چې
په بحر او وچه باندې ولاړه ده، هغه پرانيستل شوی طومار واخله.»
۹ نو زه هغې فرښتې ته ورغلم او ورته مې وويل: «هغه کوچنی
طومار ماته راکړه.» هغې وويل: «واخله او ويې خوره، دا به ستا خېټه
ترخه کړي، خو خوله به دې لکه د شاتو په شان خوږه وي.» ۱۰
نو ما هغه کوچنی طومار د فرښتې د لاس نه واخيست او ومې خوړ،
هغه زما په خوله کې د شاتو په شان خوږ ولګېده، خو کله چې مې
تېر کړ نو زما خېټه يې ترخه کړه. ۱۱ بيا راته وويل شول: «ته بايد
يوځل بيا د خدای پيغام ډېرو خلکو، قومونو، ژبو او پاچاهانو ته
ورسوې.»

## دوه شاهدان

۱۱ ۱ بيا يې ماته د اندازه کولو يو لرګی راکړ او راته ويې ويل:
«لاړ شه او د خدای د کور او د قربانۍ د ځای اندازه واخله او
عبادت کوونکي وشمېره. ۲ خو د خدای د کور باندېنۍ حوېلۍ مه
اندازه کوه. هغه پرېږده، ځکه چې هغه بې‌ايمانه خلکو ته ورکړل شوې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده او هغوی به دا سپېڅلی ښار تر دوه څلوېښتو میاشتو پورې تر
پښو لاندې کړي. ۳ زه به خپلو دوه شاهدانو ته چې د وير کالي
يې اغوستي دي، واک او اختيار ورکړم او هغوی به د يو زرو دوه
سوه شپېتو ورځو په موده کې د خدای پيغام خلکو ته رسوي.»

۴ دا دوه شاهدان د زيتون دوه ونې او دوه څراغدانونه دي چې د
ځمکې د خاوند په حضور کې ولاړ دي. ۵ که څوک وغواړي
هغوی ته زيان ورسوي، نو د هغوی د خولې نه به اور راووځي او
خپل دښمنان به وسوځوي. په دې ډول هرڅوک چې وغواړي هغوی
ته زيان ورسوي، وژل کېږي. ۶ هغوی دا واک او اختيار لري چې
اسمان بند کړي ترڅو په هغه وخت کې چې هغوی د خدای پيغام
خلکو ته رسوي، باران ونه شي. همدارنګه هغوی دا واک او اختيار
لري چې اوبه په وينو بدلې کړي او هر وخت چې وغواړي په ځمکه
باندې هر ډول بلا راولي.

۷ کله چې هغوی خپله شاهدي ورکول سرته ورسوي، نو هغه
ځناور چې د ځمکې د تل څخه راوځي، هغه به د هغوی سره جنګ
وکړي او هغوی ته به ماتې ورکړي او وبه يې وژني. ۸ د هغوی
مړي به په هماغه لوی ښار کې چې د هغوی څښتن په کې په صليب
باندې ځړول شوی ؤ، په کوڅو کې پراته وي. دا ښار په روحاني
توګه د سدوم او مصر په نوم يادېږي. ۹ تر درې نيمو ورځو پورې
به د هر قوم، هرې قبيلې، هرې ژبې او هر ملت خلک د هغوی مړو
ته ګوري او هېچا ته به اجازه نه ورکول کېږي چې هغوی ښخ کړي.
۱۰ د ځمکې په مخ ټول خلک به هغوی پورې خاندي، خوشحالي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به کوي، جشن به نیسي او یو بل ته به سوغاتونه ورکوي، ځکه چې
دغو دواړو پیغمبرانو هغوی ډېر په عذاب کړي وو. ۱۱ خو د درې
نیمو ورځو نه وروسته خدای په هغوی کې د ژوندون روح واچاوه او
هغوی په خپلو پښو ودرېدل او کومو خلکو چې هغوی ولیدل، ډېر
ووېرېدل. ۱۲ بیا هغو دوه پیغمبرانو د اسمان نه یو لوړ اواز واورېد
چې هغوی ته یې ویل: «دلته پورته راشئ!» او په داسې حال کې چې
دښمنانو یې ورته کتل، هغوی په ورېځو کې اسمان ته وختل. ۱۳
په هماغه وخت کې یوه سخته زلزله وشوه او د هغه ښار لسمه برخه
راوغورځېدله او اووه زره کسان په دې زلزله کې مړه شول او پاتې
کسان ډېر ووېرېدل او د اسمانونو خدای ثنا یې ویله. ۱۴ دوهمه
بلا تېره شوه، خو درېمه بلا به زر راشي.

## اووم سرنی

۱۵ بیا اوومې فرښتې خپل سرنی وواهه او په اسمان کې لوړ
اوازونه واورېدل شول چې ویل یې:

د نړۍ پاچاهي زمونږ د څښتن خدای
او د هغه د مسیح شوه
او هغه به تل ترتله پاچاهي کوي.

۱۶ بیا هغه څلورویشت مشران چې د خدای په حضور کې په
خپلو تختونو باندې ناست وو، په ځمکه باندې پړمخې پرېوتل او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای عبادت يې وکړ ١٧ او ويل يې:

ای مطلق قادر څښتنه خدايه!

کوو ستا شکر چې ته يې او وې

ځکه چې تا په لاس کې واخيست خپل لوی قدرت

او تا شروع کړه پاچاهي

١٨ شول په قهر ولسونه او قومونه

ځکه وخت رارسېدلی ستا د قهر

رارسېدلی هغه وخت چې قضاوت وشي د مړو په هکله

او رارسېدلی هغه وخت چې اجر ورکړل شي

ستا خدمتګارانو يعنې پيغمبرانو،

سپېڅلو او هغو خلکو ته چې وېرېږي ستا د نوم نه

که هغه لوی وي يا کوچني

رارسېدلی دی اوس وخت د تباهۍ د هغو خلکو

تباه کوله يې چې ځمکه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ بیا په اسمان کې د خدای کور پرانیستل شو او د هغه په کور
کې د هغه د لوظ صندوق ولیدل شو. برېښنا وځلېدله، د تندر غږ شو،
غړمبار شو، زلزله وشوه او سخته ږلۍ وورېدله.

## ښځه او ښامار

**۱۲** ۱ نو بیا په اسمان کې یوه لویه نښه ښکاره شوه. هلته یوه
ښځه وه چې لمر یې لکه د کالیو په شان اغوستی ؤ، سپوږمۍ یې تر
پښو لاندې وه او په سر باندې یې د دولسو ستورو تاج ؤ. ۲ هغه
امیدواره وه او د لنګون د درد له امله یې چیغې وهلې او په تکلیف
وه. ۳ بیا په اسمان کې یوه بله نښه ښکاره شوه. هلته یو لوی سور
ښامار ؤ چې اووه سرونه او لس ښکرونه یې لرل او په هر سر باندې
یې تاج ؤ. ۴ هغه په خپلې لکۍ باندې د اسمان درېمه برخه
ستوري راکش کړل او په ځمکه یې راوغورځول. ښامار د هغې ښځې
په مخکې چې د ماشوم د زېږولو په حال کې وه ودرېده، د دې دپاره
چې کله د هغې ماشوم پیدا شي، هغه یې ژوندی تېر کړي. ۵ بیا د
هغې زوی پیدا شو چې په ټولو قومونو به د اوسپنې په امسا باندې
حکومت کوي. خو د هغې ماشوم پورته د خدای او د هغه تخت ته
یووړل شو. ۶ هغه ښځه دښتې ته، یعنې هغه ځای ته وتښتېدله
چې خدای ورته تیار کړی ؤ، ترڅو هلته د یو زر او دوه سوه شپېته
ورځو دپاره د هغې پالنه وشي.

۷ بیا په اسمان کې جنګ وشو. میکاییل او د هغه فرښتو د ښامار
سره او ښامار او د هغه فرښتو د دوی سره جنګ وکړ. ۸ خو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښامار ماتې وخوړه او نور د هغه او د هغه د فرښتو دپاره په اسمان
کې ځای نه ؤ. ٩ نو هغه لوی ښامار لاندې وغورځول شو، هغه
زوړ او پخوانی مار چې د شيطان يا ابليس په نوم يادېږي او ټوله
نړۍ يې غولوله، د خپلو فرښتو سره لاندې ځمکې ته وغورځول شو.
١٠ بيا مې په اسمان کې يو لوړ اواز واورېد چې ويل يې:

اوس دی وخت رارسېدلی زمونږ د خدای د خلاصون

او د قدرت، پاچاهۍ

او د هغه ټاکل شوي مسيح د واک او اختيار

ځکه څوک چې مدعي ؤ زمونږ د خويندو ورونو

او شپه او ورځ يې لګول په هغوی باندې تورونه

د خدای حضور کې

غورځول شوی دی د اسمان نه لاندې ځمکې ته دا

١١ او بريالي شول زمونږ خويندې ورونه

په وسيله د ورې د وينې

او په هغه باندې د شاهدۍ د پيغام

ځکه تيار وو هغوی دې ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې خپل ژوند له لاسه ورکړي

او حتی مړه شي

١٢ وکړئ خوشحالي ای اسمانونو او چې په کې اوسئ تاسو

خو ای ځمکې او بحره! افسوس دې وي ستاسو په حال باندې

ځکه درغی شیطان تاسو ته ښکته

او ښه پوهیږي په دې چې زیات وخت ورسره نشته

نو ډیر په قهر دی هغه

١٣ کله چې ښامار پوه شو چې ځمکې ته راغورځول شوی دی،
نو د هغې ښځې پسې شو چې زوی یې زیږولی ؤ. ١٤ خو ښځې ته
د عقاب دوه لوی وزرونه ورکړل شول، ترڅو وکولای شي هغه ځای
ته والوزي چې په دښته کې ورته تیار شوی ؤ. هلته به تر درې نیمو
کالو پورې د هغې پالنه وشي او د هغه ښامار د حملې نه به خوندي
وساتل شي. ١٥ بیا ښامار د خپلې خولې نه د اوبو سیلاب جاري
کړ، ترڅو هغه ښځه لاندې کړي او هغه یوسي. ١٦ خو ځمکې د
هغې ښځې سره مرسته وکړه، خوله یې خلاصه کړه او د اوبو هغه
سیلاب یې چې ښامار د خپلې خولې نه جاري کړی ؤ، تیر کړ. ١٧
نو ښامار په هغې ښځې باندې ډیر په قهر شو او لاړ چې د هغې د
پاتې اولادې سره چې د خدای په حکمونو باندې عمل کوي او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عیسی په هکله شاهدي ورکوي، وجنګیږي. ۱۸ ښامار د بحر په
غاړه ودرېده.

## دوه ځناور

**۱۳** ۱ بیا ما ولیدل چې یو ځناور د بحر نه راووت چې لس
ښکرونه او اووه سرونه یې لرل. د هغه په هر ښکر باندې یو تاج ؤ او
په هر سر باندې یې کفري نومونه لیکل شوي وو. ۲ هغه ځناور
چې ما ولیده د پړانګ په شان ؤ او پښې یې د اېږې او خوله یې د
زمري په شان وه. ښامار هغه ته خپل قدرت، تخت او ډېر واک او
اختیار ورکړ. ۳ ما ولیدل چې د هغه ځناور یو سر د مرګ ګوزار
خوړلی ؤ، خو د هغه زخم جوړ شوی ؤ. ټوله نړۍ حیرانه وه او د
هغه ځناور پسې روانه شوه. ۴ خلکو هغه ښامار ته عبادت وکړ،
ځکه چې هغه خپل واک او اختیار هغه ځناور ته ورکړی ؤ. هغوی
هغه ځناور ته هم عبادت وکړ او ویل یې: «څوک د دې ځناور په
شان زورور دی؟ څوک کولای شي چې د هغه سره جنګ وکړي؟»

۵ هغه ځناور ته اجازه ورکړل شوه چې کبرجنې خبرې وکړي او
کفر ووایي او هغه ته واک او اختیار ورکړل شو چې تر دوه څلوېښتو
میاشتو پورې حکومت وکړي. ۶ هغه خپله خوله خلاصه کړه چې
د خدای په خلاف کفر ووایي. هغه د خدای نوم، د هغه استوګنځي او
هغو کسانو ته چې په اسمان کې اوسیږي، کفر وویل. ۷ هغه ته
اجازه ورکړل شوه چې د خدای د خلکو سره وجنګیږي او په هغوی
باندې بریالی شي او په ټولو قبیلو، قومونو، ژبو او ملتونو باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حکومت وکړي. ۸ ټول خلک چې د ځمکې په مخ ژوند کوي د
هغه عبادت به کوي، بې له هغو کسانو څخه چې نومونه يې د
پيدايښت نه مخکې د هغه حلال شوي وري د ژوندون په کتاب کې
ليکل شوي دي. ۹ څوک چې غوږونه لري هغه دې واوري:

۱۰ هغه څوک چې اسير کيږي

هغه به اسير شي

چې په توره وژل کيږي هغه څوک

هغه به ووژل شي توره باندې

دا په دې معنی ده چې د خدای سپيڅلي خلک بايد په صبر او زغم
سره وفادار پاتې شي.

۱۱ بيا ما يو بل ځناور وليده چې د ځمکې نه راووت. هغه د وري
په شان دوه ښکرونه لرل او د ښامار په شان يې خبرې کولې. ۱۲
هغه د لومړني ځناور په شتون کې د هغه د ټول واک او اختيار څخه
کار اخيسته او ټوله ځمکه او د هغې اوسېدونکي يې دې ته مجبورول
چې د هغه لومړني حيوان عبادت وکړي چې وژونکی زخم يې جوړ
شوی ؤ. ۱۳ هغه لويې معجزې ښودلې، تر دې پورې چې د خلکو
په مخکې يې د اسمان نه په ځمکه باندې اور ووراوه. ۱۴ هغه په
هغو معجزو سره چې اجازه ورکړل شوې وه چې د لومړني ځناور په
حضور کې يې وښايي، د ځمکې اوسېدونکي غولول. هغوی ته يې
ويل چې د هغه لومړني ځناور مجسمه جوړه کړي چې په توره باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زخمي شوی ؤ او تراوسه لا ژوندی دی. ۱۵ هغه ته اجازه ورکړل
شوه چې د لومړني ځناور په مجسمه کې ساه واچوي چې خبرې
وکړي او وکولای شي هغه خلک ووژني چې د هغې مجسمې عبادت
نه کوي. ۱۶ هغه ټول خلک د کوچنیو نه نیولې تر لویانو، شتمنو نه
تر غریبو، ازادو نه تر غلامانو پورې مجبورول چې په خپل ښي لاس
یا تندي باندې یوه نښه ولګوي. ۱۷ هېڅوک نه شو کولای چې څه
شی واخلي او یا یې خرڅ کړي، ترڅو پورې چې هغه نښه یا د هغه
ځناور د نوم شمېره پرې نه وي لګېدلې چې د هغه د نوم څرګندونه
کوي. ۱۸ د دې دپاره پوهه او حکمت په کار دی. نو څوک چې
پوه وي باید د هغه ځناور د شمېرې په معنی پوه شي، ځکه چې دا د
انسان شمېره ده. هغه شمېره ده ۶۶۶.

## وری او د هغه پیروان

۱۴ ۱ بیا ما وکتل او ومې لیدل چې د صهیون په غره باندې
وری ولاړ ؤ او یو لک او څلورڅلوېښت زره کسان ورسره وو چې
په تندیو باندې یې د هغه نوم او د هغه د پلار نوم لیکل شوی ؤ. ۲
ما د اسمان نه یو اواز واورېد چې د تېزو اوبو د غرهار او د تندر د
لوړ اواز په شان ؤ. کوم اواز چې ما واورېد هغه داسې ؤ لکه چنګ
غږوونکي چې خپل چنګونه غږوي. ۳ هغوی د تخت او د څلورو
اسماني موجوداتو او مشرانو په مخکې یوه نوې سندره وویله. هېڅوک
دا سندره زده کولای نه شوه، بې له هغو یو لک او څلورڅلوېښت
زره کسانو څخه چې د ټولې نړۍ څخه بېرته په بیه اخیستل شوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو. ۴ دا هغه کسان دي چې ځانونه يې د جنسي اړيکو نه لېرې
ساتلي دي. هرچېرته چې ورى ځي، نو هغوى ورپسې روان وي.
هغوى د خداى او وري دپاره د انسانانو له منځ نه د لومړني حاصل
په توګه په بيه اخيستل شوي دي. ۵ هغوى هېڅ دروغ نه وايي او
بې‌عيبه دي.

## د درېو فرښتو پيغامونه

۶ بيا ما بله فرښته وليدله چې په اسمان کې الوتله، هغې د ځمکې
په مخ اوسېدونکو، هر ملت، هرې قبيلې، هرې ژبې او هر قوم ته
تلپاتې زېرى ورکاوه. ۷ هغې په لوړ اواز نارې وهلې: «د خداى
څخه ووېرېږئ او هغه ته جلال ورکړئ، ځکه چې هغه وخت
رارسېدلى دى چې هغه به قضاوت کوي. د هغه عبادت وکړئ چې
اسمان، ځمکه، بحر او د اوبو چينې يې پيدا کړي دي.»

۸ د هغې نه وروسته دوهمه فرښته راغله او نارې يې ووهلې:
«راولوېد، هغه لوى بابل راولوېد، ځکه چې ټول قومونه د هغې د
زناکارۍ د شهوت د نشې تر اغيزې لاندې وو.»

۹ بيا د هغوى پسې درېمه فرښته راغله او په لوړ اواز يې نارې
ووهلې: «څوک چې هغه ځناور او د هغه مجسمې ته عبادت کوي او
مني چې د هغه نښه په خپل تندي يا لاس باندې ولري، ۱۰ هغه به
د خداى د قهر او غضب شراب وڅښي، هغه ټينګ شراب چې هغه د
خپل قهر په پياله کې اچولي دي. هغوى به د سپېڅلو فرښتو او وري
په حضور کې په اور او د ګوګړو په لمبو کې عذاب ووينې. ۱۱ د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی د عذاب لوګی به د تل دپاره راپورته کیږي او هر هغه څوک
چې هغه ځناور او د هغه مجسمې ته عبادت کوي او یا د هغه د نوم
نښه ورباندې لګېدلې وي، نو هغوی به نه د شپې او نه د ورځې ارام
ولري.»

۱۲ دا په دې معنی ده چې د خدای د خلکو دپاره صبر او زغم په
کار دی چې د هغه حکمونه ومني او عیسی ته وفادار پاتې شي.

۱۳ بیا ما د اسمان نه یو اواز واورېد چې ویل یې:«دا ولیکه، بختور
دي هغه خلک چې له همدااوس نه په څښتن باندې په ایمان کې مړه
کیږي!» روح القدس وایي: «هو، هغوی به د خپلو زحمتونو نه په ارام
وي، ځکه چې د هغوی نېک عملونه به ورسره وي.»

## د ځمکې د حاصل لو کول

۱۴ بیا ما وکتل او ومې لیدل چې یوه سپینه ورېځ راښکاره شوه او
په هغې باندې یو څوک ناست ؤ چې د انسان په شان ؤ. د هغه په سر
باندې د سرو زرو تاج ؤ او په لاس کې یې تېره لور ؤ. ۱۵ بیا یوه
بله فرښته د خدای د کور نه راووتله او هغه کس ته یې چې په
ورېځې باندې ناست ؤ، په لوړ اواز غږ وکړ: «خپل لور دې راواخله
او ورېبه، ځکه چې د لو وخت رارسېدلی دی او د ځمکې فصل پوخ
او تیار دی.» ۱۶ نو هغه کس چې په ورېځې باندې ناست ؤ خپل
لور یې ځمکې ته واچاوه او فصل ورېبل شو. ۱۷ بیا یوه بله فرښته
د خدای له کور نه چې په اسمان کې ؤ، راووتله او د هغې په لاس
کې هم یو تېره لور ؤ. ۱۸ بیا یوه بله فرښته د قربانۍ د ځای نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راووتله، هغه د قربانۍ د ځای د اور مسووليت درلود او هغې فرښتې
ته يې چې تېره لور ورسره ؤ، په لوړ اواز نارې کړې او ويې ويل: «د
خپل لور نه کار واخله او د ځمکې د تاکونو نه د انګورو وږي راټول
کړه، ځکه چې انګور يې پاخه دي.» ۱۹ نو هغې فرښتې خپل لور
ورواچاوه او د دې ځمکې د تاکونو انګور يې راټول کړل او هغه يې د
خدای د قهر او غضب د شربت ويستلو په لوی خم کې واچول. ۲۰
انګور يې د اورشليم د ښار نه دباندې د شربت ويستلو په خم کې تر
پښو لاندې وزبېښل او د خم نه د وينو سېلاب جاري شو او دا وينې
لکه د اس د قيضو په اندازه لوړې وې او د درې سوه کيلومترو په
اندازه لېرې لاړلې.

## فرښتې او وروستنۍ بلاګانې

۱۵ ۱ بيا ما په اسمان کې يوه بله لويه او حيرانوونکې نښه
وليدله. هلته اووه فرښتې وې چې اووه بلاګانې ورسره وې. دا
وروستنۍ بلاګانې وې، ځکه چې په دې سره د خدای قهر او غضب
پای ته رسيږي.

۲ ما د ښيښې په شان بحر وليده چې اور ورسره يوځای ؤ. هلته
مې هغه خلک وليدل چې په ځناور او د هغه په مجسمې او د هغه د
نوم په شمېرې باندې بريالي شوي وو. هغوی د ښيښې د بحر ترڅنګ
ولاړ وو او په لاسونو کې يې هغه چنګونه وو چې خدای ورته
ورکړي وو. ۳ هغوی د خدای د خدمتګار موسی سندره او د
ورې سندره ويله:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ای ښښتنه، ای مطلق قادره خدایه!

څومره لوی او عجیبه دي ستا کارونه

عادلانه دي او رښتینې د ستا لارې

ای د قومونو پاچا!

۴ څوک دی چې ونه وېرېږي ستا نه، ای ښښتنه

او ستا د نوم ثنا او صفت ونه کړي؟

ځکه یوازې ته یې چې سپېڅلی یې

رابه شي ټول قومونه او ستا عبادت به وکړي

ځکه لیدلي ټولو ستا عادلانه کارونه

۵ له دې نه وروسته مې ولیدل چې د خدای کور یعنې سپېڅلي
خېمه په اسمان کې پرانیستل شوه، ۶ او د هغې نه اووه فرښتې د
اوو بلاګانو سره راووتلې چې پاک او ځلېدونکي د کتان کالي یې
اغوستي وو او د سرو زرو پټۍ یې د خپلو سینو نه تاوې کړې وې.
۷ بیا د هغو څلورو اسماني موجوداتو څخه یو یې هغو اوو فرښتو
ته د سرو زرو اووه جامونه ورکړل چې هغه د خدای د قهر او غضب
څخه ډک وو، یعنې هغه خدای چې تل ترتله به ژوندی وي. ۸ بیا
د خدای کور د خدای د جلال او قدرت د لوګي څخه ډک شو او تر
هغې پورې هېڅوک ورننوتلی نه شو، ترڅو چې د هغو اوو فرښتو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اووه بلاګانې پای ته نه وې رسېدلې.

## د خدای د قهر جامونه

۱۶ ۱ بیا ما د خدای د کور نه یو لوړ اواز واورېد چې هغو اوو
فرښتو ته یې ویل: «لاړې شئ او د خدای د قهر او غضب اووه
جامونه په ځمکه باندې توی کړئ.»

۲ نو لومړی فرښته لاړه او خپل جام یې په ځمکه باندې توی کړ
او د هغو خلکو په بدنونو باندې چې د ځناور نښې یې درلودلې او د
هغه مجسمې ته یې عبادت کاوه، خطرناکه او دردناکه زخمونه
راښکاره شول.

۳ دوهمې فرښتې خپل جام په بحر کې توی کړ او د بحر اوبه د
مړي د وینې په شان شوې او د بحر ټول ژوندي موجودات مړه شول.

۴ درېمې فرښتې خپل جام په سیندونو او په چینو کې توی کړ او
د هغو اوبه په وینو باندې بدلې شوې. ۵ بیا ما واورېدل چې هغې
فرښتې چې په اوبو باندې یې واک او اختیار درلود، وویل:

ای سپېڅلی خدایه! چې ته یې او وې

ته یې عادل

ځکه تا کړې دا قضاوتونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ ځکه تويې کړې هغوی وينې

ستا د سپېڅلو خلکو او پيغمبرانو

څښبلو دپاره دې هغوی ته ورکړې وينې

ځکه لايق وو هغوی د دې

۷ ما د قربانۍ د ځای نه يو اواز واورېد چې ويل يې:

ای څښتنه، مطلق قادره خدايه

عادلانه او رښتيني دي ستا قضاوتونه

۸ څلورمې فرښتې خپل جام په لمر باندې توی کړ او لمر ته
اجازه ورکړل شوه چې په خپل اور باندې خلک وسوځوي. ۹
هغوی د هغې سختې ګرمۍ له امله وسوځېدل او د خدای نوم ته يې
چې په دې بلاګانو باندې يې واک او اختيار درلود، کفر وويل. هغوی
د خپلو ګناهونو څخه توبه ونه ويستله او د خدای ثنا يې ونه ويله.

۱۰ پنځمې فرښتې خپل جام د هغه ځناور په تخت باندې توی کړ
او د هغه پاچاهي په تياره کې ډوبه شوه. خلکو د درد له امله خپل
ژبې چيچل ۱۱ او د اسمان خدای ته به يې د خپلو دردونو او
زخمونو له امله کفر ويل، خو د خپلو بدو کارونو څخه يې توبه نه
ويستله.

۱۲ شپږمې فرښتې خپل جام د فرات په لوی سيند کې توی کړ او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سیند اوبه وچې شوې، ترڅو د ختیځ د پاچاهانو د راتللو دپاره لاره
تیاره شي. ۱۳ بیا ما ولیدل چې د ښامار د خولې نه، د هغه ځناور
د خولې نه او د هغه جعلي پیغمبر د خولې نه د چونګښو په شان
درې پېریان راووتل. ۱۴ دا شیطاني روحونه دي چې معجزې
ښايي. هغوی د ټولې نړۍ پاچاهانو ته ورځي چې هغوی سره راټول
کړي چې د لوی قضاوت په ورځ د مطلق قادر خدای په وړاندې
وجنګېږي.

۱۵ څښتن وايي: «ګورئ، زه به لکه د غله په شان درشم. بختور
دی هغه څوک چې بېداره وي، خپل کالي یې اغوستي وي، ترڅو هغه
د خلکو په مخکې لوڅ ونه ګرځي او ونه شرمېږي!» ۱۶ نو هغو
پېریانو پاچاهان په هغه ځای کې سره راټول کړل چې په عبرانۍ کې
ورته «ارمګدون» وايي.

۱۷ بیا اوومې فرښتې خپل جام په هوا کې توی کړ او د خدای په
کور کې د تخت نه یو لوړ اواز راغی چې ویل یې: «هرڅه پای ته
ورسېدل!» ۱۸ وروسته بیا برېښنا وپرکېدله او د تندرغږ او غړمبار
شو او یوه داسې سخته زلزله وشوه چې د انسان د پیدایښت راهیسې
کله نه وه شوې. ۱۹ هغه لوی ښار درې ټوټې شو او د نړۍ ټول
ښارونه وران شول. خدای ته لوی بابل ور په یاد شو او هغه یې
مجبور کړ چې هغه پیاله وڅښي چې د هغه د ډېر قهر او غضب د
شرابو نه ډکه وه. ۲۰ ټولې جزیرې له نظره پناه او ورکې شوې او
غرونه له منځه لاړل. ۲۱ د اسمان نه د انسانانو په سرونو باندې
ډېره غټه ږلۍ چې پنځه خلوېښت کیلوګرامه وزن یې درلود،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راووریدله او خلکو د دې ږلۍ له امله خدای ته کفر ویل، ځکه چې
دا ډېر سخت افت ؤ.

## مشهوره بدلمنه ښځه او ځناور

۱۷ ۱ بیا د هغو اوو فرښتو څخه چې جامونه یې په لاس کې
وو، یوه یې ماته راغله او راته ویې ویل: «راشه، چې زه درته هغه
مشهوره بدلمنه ښځه چې ډېرو سیندونو ته نژدې ناسته ده او سزا به
ورته ورکول کیږي، دروښایم. ۲ د ځمکې پاچاهانو د هغې سره
زنا کړې ده او د نړۍ خلک د هغې د زناکارۍ د شرابو په څښلو نشه
شوي دي.» ۳ روح القدس زه تر خپلې اغېزې لاندې راوستلم او
هغې فرښتې زه دښتې ته بوتلم. هلته ما یوه ښځه ولیدله چې په یو
ځناور باندې چې سور رنګ یې ؤ، سپره وه. هغه ځناور اووه سرونه
او لس ښکرونه لرل او په ټول بدن باندې یې کفري نومونه لیکل
شوي وو. ۴ هغې ښځې بانجاني او سره کالي اغوستي وو او په
سرو زرو، زېوراتو او مرغلرو باندې سینګار شوې وه. د هغې په لاس
کې د سرو زرو پیاله وه چې د کرکې وړ کارونو او د هغې د زناکارۍ
د ناپاکۍ څخه ډکه وه. ۵ د هغې په تندي باندې د پټ راز نه ډک
یو نوم لیکل شوی ؤ: «لوی بابل، د ټولو بدلمنو او د ځمکې په مخ د
ټولو د کرکې وړ کارونو مور.» ۶ ما ولیدل چې هغه ښځه د خدای
د خلکو په وینه او د عیسی د شهیدانو په وینه نشه وه. کله چې ما
هغه ولیدله نو ډېر حیران شوم.

۷ خو هغې فرښتې راته وویل: «ته ولې دومره حیران شوې؟ زه به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاته د هغې ښځې او د هغه ځناور چې اووه سرونه او لس ښکرونه
لري او هغه ښځه ورباندې سپره ده، پټ راز ښکاره کړم. ٨ هغه
ځناور چې تا ولیده، یو وخت ؤ خو اوس نشته او هغه به د ځمکې د
تل څخه راپورته شي او هلاک به شي. هغه خلک چې د ځمکې په
مخ ژوند کوي او نومونه یې د نړۍ د پیدایښت نه مخکې د ژوندون په
کتاب کې نه وي لیکل شوي، نو هغوی به د دې ځناور په لیدلو سره
حیران شي، ځکه چې هغه یو وخت ؤ او اوس نشته، خو بیاهم هغه
به بیا راښکاره شي.

٩ په دې شیانو باندې د پوهېدلو دپاره حکمت په کار دی. دا اووه
سرونه د هغو اوو غونډیو استازیتوب کوي چې هغه ښځه ورباندې
کښېني. هغوی هم د اوو پاچاهانو په معنی دي، ١٠ چې پنځه یې د
پاچاهۍ څخه لیرې شوي دي او یو یې اوس هم پاچاهي کوي او
اووم یې لا تراوسه نه دی راغلی او کله چې راشي، نو هغه باید د لږ
وخت دپاره وي. ١١ هغه ځناور چې یو وخت ژوندی ؤ خو اوس
ژوندی نه دی، هغه اتم پاچا دی او د هغو اوو تنو څخه دی او هغه به
هلاک شي. ١٢ هغه لس ښکرونه چې تا ولیدل، دا هغه لس
پاچاهان دي چې تراوسه لا پاچاهۍ ته نه دي رسېدلي، خو هغوی ته
به د ځناور سره په پاچاهۍ کې د یو ساعت دپاره اختیار ورکړل شي.
١٣ ځکه چې د هغوی ټولو مقصد یو دی، چې خپل قدرت او
اختیار به هغه ځناور ته ورکوي. ١٤ هغوی به د ورې سره جنګ
وکړي، خو ورى به په هغوی باندې بریالی شي، ځکه چې هغه د
څښتنانو څښتن او د پاچاهانو پاچا دی او کوم کسان چې په دې
بریالیتوب کې ورسره دي، د هغه بلل شوي، غوره شوي، او وفادار

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پیروان دي.»

١٥ بیا هغې فرښتې ماته وویل: «تا چې کومې اوبه ولیدلې چې هغه
بدلمنه ښځه وربانديې ناسته وه، هغه قومونه، ولسونه، نژادونه او ژبې
دي. ١٦ هغه لس ښکرونه چې تا ولیدل او هغه ځناور به د هغې
بدلمنې ښخه کرکه وکړي. هغوی به د هغې نه هرڅه واخلي او هغه به
لوڅه پرېږدي. هغوی به د هغې د بدن غوښه وخوري او هغه به په
اور کې وسوځوي. ١٧ ځکه چې خدای د هغوی په زړونو کې دا
غوښتنه او اراده پیدا کړې وه چې په یو زړه د خدای د مقصد د پوره
کولو دپاره هغه ځناور ته د خپلې پاچاهۍ واک او اختیار ورکړي،
ترڅو هغه څه چې خدای په خپل کلام کې ویلي دي هغه رښتیا شي.
١٨ هغه ښځه چې تاسو ولیدله، دا هماغه لوی ښار دی چې د نړۍ
په پاچاهانو حکومت کوي.»

## د بابل راغورځېدل

١٨ ١ له دې نه وروسته ما یوه بله فرښته ولیدله چې د اسمان
څخه راښکته کېدله. هغې ډېر واک او اختیار درلود او ځمکه د هغې د
شان او شوکت نه رڼا شوه. ٢ هغې په لوړ اواز سره نارې ووهلې:

راولوېد، لوی بابل راولوېد!

هغه شو د شیطانانو کور

پناه ځای شو د پېریانو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هر ډول ناپاکو مرغانو پناه ځای شو

او د ناپاکو او چټلو ځناورو پناه ځای شو

٣ ځکه چې ښنبلي دي ټولو قومونو

د هغې د زناکارۍ او شهوت شراب

پاچاهانو د دنیا کړې هغې سره زنا

او شتمن شوي د نړۍ سوداګران

په سبب د هغې د زیاتې عیاشۍ

٤ بیا ما د اسمان نه یو بل اواز واورېد چې ویل یې:

ای زما خلکو تاسو راووځئ د بابل د ښار څخه

هسې نه چې شئ شریک د هغه په ګناهونو کې

او راشي بلاګانې یې په تاسو باندې

٥ ځکه د هغې د ګناهونو څخه

دي جوړې شوې داسې لوړې ډېرۍ

چې تر اسمانه رسي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او خدای ته په یاد دي د هغې بد عملونه

۶ داسې چلند وکړئ هغې سره

لکه چې څنګه هغې کړی دی د نورو سره

کوم څه چې کړي دي هغې

ورسره ویې کړئ دوه چنده تاسو

کوم شراب چې تیار کړي دي هغې تاسو ته

د دوه چنده قوي شرابو

ورته ډکه کړئ پیاله د هغې

۷ څومره لویې چې ورکوله خپل ځان ته هغې

او عیاشي یې کوله

هغومره ورکړئ ورته غم او عذاب

ځکه چې خپل زړه کې هغه وایي:

«زه یمه ناسته په تخت د ملکې په شان

زه کونډه نه یم او وبه نه وینمه هېڅکله غم»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ له دې امله په هغې باندې به راشي
په يوه ورځ مصيبتونه داسې
لکه مرګ، غم او قحطي
او هغه به وسوځول شي په اور کې
ځکه ښتن خدای چې قضاوت کړي د هغې په هکله
هغه دی د قدرت خاوند

۹ د ځمکې هغو پاچاهانو چې د هغې سره زنا کړې ده او د هغې
سره يې د عياشۍ نه خوند اخيستی دی، کله چې د هغې د سوځېدلو
لوګی ووينې، نو د هغې په حال به وژاړي او وير به وکړي. ۱۰
هغوی به لېرې ولاړ وي او د هغې عذاب نه چې هغه به يې تېروي،
ووېرېږي او وبه وايي:

افسوس، افسوس، ای د بابل لوی ښاره!
ای قدرتمند ښاره!
په يو ساعت کې سزا درکړل شوه

۱۱ د نړۍ سوداګران به هم په بابل باندې ژړا او وير کوي، ځکه
چې نور به هېڅوک هم د هغوی نه سودا نه اخلي. ۱۲ هېڅوک به د
هغوی سره زر، سپين زر، قيمتي تيږې، مرغلرې، ښه کتان، بانجاني

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تړتېږ، وربښم، سرې تړتېږ، ډول ډول خوشبويه لرګي، د فيل د
غاښونو، قيمتي لرګيو، برنجو، اوسپنو او مرمرو نه جوړ شوي شيان
۱۳ او ورسره دالچيني، مسالې، عطر، د مر کنډ، قيمتي خوشبويي،
شراب، د زيتونو تېل، اوړه، غنم، غويان او پسونه وانخلي او په اسونو،
ګاډيګانو او په غلامانو او جنګي اسيرانو باندې يې سوداګري ونه
کړي. ۱۴ سوداګران به هغې ته ووايي:

«هغه شيان چې تا يې ارمان کاوه چې خپل يې کړې،

هغه دې ورکړل له لاسه،

تا ورکړې ده له لاسه خپله ښکلا او شان او شوکت

او نور به هېڅکله په لاس درنه شي.»

۱۵ هغه سوداګران به چې د هغې د شيانو د خرڅولو نه شتمن
شوي وو، لېرې ولاړ وي او د هغې د عذاب نه چې هغه يې تېروي،
ووېرېږي او وير او ژړا به کوي ۱۶ او وايي به:

افسوس، افسوس په دې لوی ښار

چې به يې اغوستي وو ښه کتان،

بانجاني او سره کالي

او ښايسته شوی ؤ په سرو زرو، قيمتي تيږو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او مرغلرو باندې

17 ځکه چې هغې په یو ساعت کې هغه ټوله شتمني له لاسه
ورکړه.

د کشتۍ ټول خاوندان، مسافران، کشتیوانان او هغه خلک چې د بحر
له لارې به یې خپل کاروبار کاوه، لېرې ولاړ وو. 18 کله چې هغو
د هغه ښار د سوځېدلو لوګی ولیده نو نارې یې ووهلې او ویې ویل:
«د دې لوی ښار په شان به بل ښار چېرته وي؟» 19 هغوی په
خپلو سرونو باندې خاورې بادولې او ژړاګانې او ویر یې کاوه او ویل
یې:

افسوس، افسوس، په دې لوی ښار

چې شتمن شول د هغې په وسیله

ټول خاوندان د کشتیګانو

شو برباد په یو ساعت کې

20 ای اسمانه، خوشحالي وکړه،

ای د خدای سپېڅلو خلکو،

ای رسولانو او پیغمبرانو،

شئ خوشحاله په هغې باندې،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې ستاسو په خاطر

خدای قضاوت کړی هغې باندې

۲۱ په دې وخت کې یوې زوروري فرښتې یوه تیږه چې د ژرندې
د یو غټې پل په شان وه، راواخیستله او بحر ته یې ګوزاره کړه او ویې
ویل:

په همدې ډول به بابل هغه لوی ښار

هم به ګوزار کړای شي په زوره ښکته

او بیا به هم هېڅکله ونه لیدل شي

۲۲ نور به هېڅکله هم وانهورېدل شي

تا کې اوازونه د چنګ غږوونکو،

ساز غږوونکو، شپېلۍ وهونکو

او سرنې وهونکو

نه به پیدا شي تا کې کوم کسبګر چې کاروبار کوي

او نه به بیا واورېدل شي تا کې اواز د ژرندې

۲۳ نور به ونه ولیدل شي تا کې د څراغ رڼا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او نه به واورېدل شي تا کې اوازونه د زوم او ناوې

ځکه چې ستا سوداګران ډېر قدرتمند خلک وو

د نړۍ د ټولو سوداګرانو شخه

او ټول قومونه غولولي وو تا خپلې جادو باندې

٢۴ ستا په کوڅو کې بهېدلې وينې د پيغمبرانو

او د خدای د خلکو

او د هغو ټولو خلکو خون

چې وژل شوي دي د ځمکې په مخ

دی ستا په غاړه

## ١٩

١ وروسته له دې ما په اسمان کې د ګڼ شمېر خلکو لوړ
اوازونه واورېدل، هغوی نارې وهلې:

«د خدای ثنا ووايئ!

خلاصون، جلال او قدرت دی زمونږ د خدای

٢ ځکه رښتيني او عادلانه دي قضاوتونه د هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه د هغې لويې بدلمنې په هکله

چې فاسده يې کړه ځمکه خپلې زناکارۍ باندې

ويې کړه پرېکړه د سزا او د هغې څخه يې واخيست

بدل د وينې د خپلو خدمتګارانو»

٣ هغوی چيغې کړې يوځل بيا:

«د خدای ثنا وواييئ!

ځکه چې تل به پورته کيږي د هغه ښار لوګی.»

٤ بيا هغه څلورويشت مشران او څلور اسماني موجودات په
ځمکه پرېوتل او خدای ته چې په تخت باندې ناست ؤ په سجده
شول، عبادت يې وکړ او ويل يې: «امين، د خدای ثنا وواييئ.» ٥
بيا د تخت نه يو اواز راغی چې ويل يې:

«ای د خدای ټولو خادمانو

ټولو خلکو چې وېرېږئ له هغه نه

که لويان يئ يا کوچنيان

ثنا وواييئ زمونږه د خدای»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٦ بیا مې د ډېرو زیاتو خلکو اوازونه واورېدل چې د تېزو اوبو د
غرهار او د تندر د لوی ګړزهار په شان وو، چې ویل یې:

«د خدای ثنا ووایئ!

ځکه چې کاندي پاچاهي زمونږ څښتن

مطلق قادر خدای په پوره قدرت سره

٧ راځئ چې وکړو خوشحالي او خوښ واوسو

او بیان کړو لویي د هغه

ځکه چې وخت رارسېدلی دی د وري د واده

او تیار کړی دی ناوې خپل ځان د هغه دپاره

٨ ورکړل شوي دي هغې ته ډېر ښه، ځلېدونکي

او پاک کتان کالي چې وایې غوندي.»

ښه کتان د خدای د خلکو ښه عملونه دي.

٩ بیا فرښتې ماته وویل: «دا ولیکه: بختور دي هغه خلک چې د
وري د واده مېلمستیا ته وربلل شوي دي.» او همدارنګه هغې وویل:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«دا د خدای رښتینی کلام دی.» ۱۰ بیا زه د هغې په پښو کې
پرېوتم چې سجده ورته وکړم، خو هغې راته وویل: «نه، داسې مه
کوه! زه هم ستا او ستا د ورونو په شان د خدای یوه خدمتګاره یم
چې په عیسی باندې د خپل ایمان په هکله شاهدي ورکوي، یوازې
خدای ته عبادت کوه! ځکه چې د عیسی په هکله شاهدي ورکول د
نبوت الهام دی.»

## په سپین اس باندې سپاره کسان

۱۱ بیا ما ولیدل چې اسمان پرانیستل شو او یو سپین اس هلته
ولاړ ؤ او هغه کس چې ورباندې سپور ؤ، د هغه نوم «وفادار او
رښتینی» ؤ، ځکه چې هغه د عدالت له مخې قضاوت او جنګ کوي.
۱۲ د هغه سترګې د اور د لمبو په شان وې او په سر باندې یې ډېر
تاجونه وو. په هغو باندې یو نوم لیکل شوی ؤ چې له هغه پرته بل
هېڅوک پرې نه پوهېده. ۱۳ هغه په وینو ککړه یوه چپنه اغوستې
وه او د هغه نوم «د خدای کلام» ؤ. ۱۴ اسماني لښکرې چې د
سوچه سپین ښه کتان کالي یې اغوستي وو او په سپینو اسونو باندې
سپاره وو، هغه پسې روان وو. ۱۵ د هغه د خولې نه یوه تېره توره
راووتله چې قومونه پرې ووهي. هغه به د اوسپنې په امسا باندې په
هغوی حکومت کوي. هغه به د مطلق قادر خدای د قهر او غضب
شراب په خم کې یعنې په هغه لوښي کې چې د انګورو شربت په کې
وباسي، تریښنو لاندې کوي. ۱۶ د هغه په چپنه او ورون باندې دا
نوم لیکل شوی دی: «د پاچاهانو پاچا او د څښتنانو څښتن.»

۱۷ بیا ما یوه فرښته ولیدله چې په لمر کې ولاړه وه او په اسمان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې یې الوتونکو مرغانو ته په لوړ اواز ناري کړې: «راشئ او د خدای
په لویه مېلمستیا کې سره راټول شئ ۱۸ او د پاچاهانو، قوماندانانو،
جنګیالیو، د اسونو او په هغو باندې د سپرو خلکو غوښې او د ټولو
انسانانو که ازاد دي یا غلامان، او که لویان وي یا واړه، غوښې
وخورئ.» ۱۹ بیا ما ولیدل چې هغه ځناور او د نړۍ پاچاهان او د
هغوی لښکرې سره راټولې شوې چې د هغه چا سره چې په اس
باندې سپور ؤ او د هغه د لښکرو سره وجنګیږي. ۲۰ خو هغه
ځناور او هغه جعلي پیغمبر چې د هغه ځناور په خاطر یې معجزې
ښودلې وې، ونیول شول. په دې معجزو باندې هغه جعلي پیغمبر هغه
خلک غولول چې د هغه ځناور نښه یې درلودله او د هغه مجسمې ته
یې سجده کړې وه. نو هغه ځناور او جعلي پیغمبر دواړه د اور هغې
بحیرې ته ژوندي وغورځول شول چې د ګوګړو لمبې ترې پورته
کېدلې. ۲۱ خو د هغوی ټولې لښکرې په هغې تورې باندې ووژل
شوې چې په اس باندې د سپور سړي د خولې څخه راووتله او ټولو
مرغانو د هغوی په غوښو ځانونه ماړه کړل.

## زر کاله پاچاهي

۲۰ ۱ بیا ما یوه فرښته ولیدله چې د اسمان نه راښکته کېدله
چې د ځمکې د تل کیلي او یو لوی زنځیر ورسره وو. ۲ هغې
ښامار یعني هغه زوړ او پخوانی مار چې هماغه ابلیس یا شیطان دی،
ونیوه او تر زرو کالو پورې یې په زنځیر وتاړه. ۳ فرښتې هغه د
ځمکې تل ته وغورځاوه، دروازه یې ورپسې وتړله او مهر یې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وربانديې ولګاوه، ترڅو زر کاله پوره شوي نه وي، هغه نور ونه شي
کولای چې قومونه وغولوي. له هغې وروسته باید د لږ وخت دپاره
ازاد کړای شي.

۴ بیا مې تختونه ولیدل چې هغه خلک پرې ناست وو چې د
قضاوت کولو واک او اختیار ورته ورکړل شوی ؤ او د هغو کسانو
روحونه مې ولیدل چې سرونه یې د عیسی په هکله د شاهدۍ
ورکولو او د خدای د کلام په خاطر پرې کړل شوي وو. دا هغه خلک
وو چې هغه ځناور او د هغه مجسمې ته یې سجده نه وه کړې او د
هغوی تندي او لاسونو د هغو نښه نه درلودله. هغوی ټول بېرته
راژوندي شول او د مسیح سره یې تر زرو کالو پورې پاچاهي وکړه.
۵ خو هغه نور خلک چې مړه شوي وو، تر هغې پورې ژوندي نه
شول ترڅو زر کاله پوره شوي نه وو. دا د مړو نه لومړنی بیا راژوندي
کېدل دي. ۶ بختور او سپېڅلی شوی هغه څوک دی چې په دې
لومړني بیا راژوندي کېدلو کې شریک دی. ځکه چې په داسې خلکو
د دوهم مرګ زور نه رسیږي، بلکې هغوی به د خدای او مسیح
کاهنان وي او د هغه سره به تر زرو کالو پورې پاچاهي کوي.

## د شیطان ماتې

۷ کله چې زر کاله پوره شي، نو شیطان به د زندان څخه
راخلاص شي. ۸ هغه به راووځي او د نړۍ د څلورو کنجونو
قومونه چې جوج او ماجوج بلل کیږي، وغولوي او هغوی چې د بحر
د شګو په شان بېشمېره دي، د جنګ دپاره سره راټول کړي. ۹
هغوی په ټوله نړۍ کې خواره شول او د خدای د خلکو کمپ او ګران

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښار يعنې اورشليم يې کلابند کړ، خو د اسمان نه ورباندې اور نازل
شو او هغوی يې تباه کړل. ۱۰ بيا شيطان چې هغوی يې غولولي
وو، د اور او ګوګړو بحيرې ته وغورځول شو، يعنې هغه ځای ته چې
هغه ځناور او جعلي پيغمبر هم په کې غورځول شوي وو. هغوی به
هلته شپه او ورځ د تل دپاره عذاب ويني.

## وروستنی قضاوت

۱۱ بيا مې يو لوی سپين تخت وليده چې يو کس ورباندې ناست
ؤ. ځمکه او اسمان د هغه د مخې نه وتښتېدل او نور ونه ليدل شول.
۱۲ بيا ما مړي وليدل چې د تخت په مخکې ولاړ وو، که هغه
پياوړي او که عادي خلک وو. هغه وخت کتابونه پرانيستل شول.
وروسته د دې کتابونو څخه بيا بل کتاب پرانيستل شو، يعنې د
ژوندون کتاب. د مړو په هکله لکه څنګه چې په کتابونو کې ليکل
شوي وو او د هغوی د عملونو له مخې قضاوت وشو. ۱۳ بحر چې
کوم مړي ساتلي وو، هغه يې بېرته ورکړل او مرګ او قبر هم هغه
بېرته ورکړل او د هرچا قضاوت د هغه د عمل له مخې وشو. ۱۴ بيا
مرګ او قبر د اور بحيرې ته وغورځول شول. د بحر دا اور دوهم
مرګ دی. ۱۵ د چا نوم چې د ژوندون په کتاب کې نه ؤ ليکل
شوی، هغه د اور بحيرې ته وغورځول شو.

## نوی اسمان او نوې ځمکه

۲۱ ۱ بيا ما يو نوی اسمان او نوې ځمکه وليدله، ځکه چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لومړنی اسمان او لومړنۍ ځمکه ورک شول او بحر نور نه ؤ. ۲ ما
سپېڅلی ښار یعنې نوی اورشلیم ولیده چې د خدای له خوا د اسمان
نه راښکته کېده او داسې تیار کړای شوی ؤ لکه چې ناوې د خپل
مېړه دپاره سینګار شوې وي. ۳ ما د تخت نه یو لوړ اواز واورېد
چې ویل یې: «ګورئ، اوس د خدای د اوسېدلو ځای د خلکو په منځ
کې دی. خدای به د هغوی سره اوسیږي. هغوی به د هغه قوم وي او
هغه په خپله به د هغوی په منځ کې د هغوی خدای وي. ۴ خدای
به د هغوی د سترګو ټولې اوښکې وچې کړي. نور به مرګ، ویر، ژړا
او درد نه وي، ځکه چې پخواني شیان تېر شوي دي.»

۵ هغه کس چې په تخت ناست ؤ، ویې ویل: «ګورئ، زه ټول
شیان نوي کوم.» همدارنګه هغه راته وویل: «دا ولیکه، ځکه چې دا
خبرې د باور وړ او رښتیا دي.» ۶ او بیا یې ماته وویل: «دا
وشول! زه الف او یا، پیل او پای یم. هرڅوک چې تږی وي زه به
هغه ته د چینې څخه د ژوندون اوبه په وړیا توګه ورکړم. ۷
څوک چې بریالی شي، هغه به د دې ټولو برکتونو وارث شي. زه به د
هغه خدای یم او هغه به زما اولاد وي. ۸ خو د وېرېدونکو،
بې‌ایمانانو، فاسدانو، قاتلانو، زناکارانو، جادوګرانو، بت‌پرستانو او ټولو
دروغجنو خلکو ځای به د اور په بحیره او سوځېدونکو ګوګړو کې
وي. دا دوهم مرګ دی.»

## نوی اورشلیم

۹ بیا د هغو اوو فرښتو څخه یوه فرښته چې د اوو بلاګانو نه ډک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جامونه ورسره وو، ماته راغله او ویې ویل: «راشه، زه به تاته ناوې
یعنې د ورې ښځه دروښایم.» ۱۰ بیا کله چې زه د روح القدس تر
اغېزې لاندې وم، فرښتې زه د یو ډېر لوړ غره څوکې ته بوتلم او د
اورشلیم سپېڅلی ښار یې چې د خدای له خوا د اسمان څخه راښکته
کېده، راته وښوده. ۱۱ دا ښار د خدای په جلال روښانه ؤ. هغه د
قیمتي تیږو په شان ځلېده او د لعل او بلور په شان صفا ؤ. ۱۲ دې
ښار لوی او لوړ دېوالونه درلودل او دولس دروازې یې لرلې او په
هره دروازه کې یې فرښته ولاړه وه. په دروازو باندې د اسراییلو د
قوم د دولسو قبیلو نومونه لیکل شوي وو. ۱۳ درې دروازې د
ختیځ خواته، درې د شمال خواته، درې د جنوب خواته او درې
دروازې د لوېدیځ خواته وې. ۱۴ د ښار دېوال په دولسو بنیادونو
باندې جوړ شوی ؤ او په هغو باندې د ورې د دولسو رسولانو نومونه
لیکل شوي وو.

۱۵ کومې فرښتې چې زما سره خبرې کولې د هغې په لاس کې د
سرو زرو یو متر ؤ چې د ښار او د هغه د دروازو او دېوالونو اندازه
ورباندې معلومه کړي. ۱۶ ښار د مربع په شکل جوړ شوی ؤ چې
اوږدوالی او پلنوالی یې یوشان ؤ او فرښتې د هغه متر په وسیله دا
ښار اندازه کړ چې دولس زره ستادیا ؤ. د هغه اوږدوالی، پلنوالی او
لوړوالی یو برابر ؤ. ۱۷ بیا هغې دېوالونه اندازه کړل چې یو سل او
څلور څلوېښت کیوبټ لوړوالی یې درلود چې دا د انساني معیار له
مخې ؤ چې فرښتې ورڅخه هم کار اخیسته. ۱۸ دېوال د لعلونو
څخه جوړ شوی ؤ په داسې حال کې چې خپله ښار د سوچه سرو
زرو نه جوړ شوی ؤ او د ښیښې په شان صفا ؤ. ۱۹ د ښار د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دېوالونو بنیادونه په ډول ډول قیمتي تیږو باندې سینګار کړای شوي
وو. لومړنی بنیاد د لعلونو، دوهم د لاجوردو، دریم د سپینو عقیقو،
څلورم د زمردو، ۲۰ پنځم د سرو عقیقو، شپږم د جیګړي عقیقو،
اووم د زبرجدو، اتم د شینچکي یاقوتو، نهم د زیړو یاقوتو، لسم د
شنو عقیقو، یوولسم د فیروزې او دولسم د بانجاني یاقوتو څخه جوړ
شوی ؤ. ۲۱ هغه دولس دروازې دولس مرغلرې وې، یعنې هره
دروازه د یوې مرغلرې څخه جوړه شوې وه. د ښار لوی سرک د
سوچه سرو زرو او د ښیښې په شان صفا ؤ.

۲۲ ما په ښار کې د خدای کور ونه لیده، ځکه چې مطلق قادر
څښتن خدای او وری خپله د دې ښار د خدای کور دی. ۲۳ هغه
ښار د لمر یا د سپوږمۍ رڼا ته اړتیا نه لري، ځکه چې د خدای جلال
هغه روښانه کوي او وری د هغه څراغ دی. ۲۴ د هغه په رڼا کې به
قومونه ګرځي او د نړۍ پاچاهان به د خپل شان او شوکت سره هغه
ته ورننوځي. ۲۵ د ښار دروازې د ورځې له خوا هیڅکله نه
بندېږي او هلته به هیڅ شپه نه وي. ۲۶ هغوی به د قومونو شان او
شوکت او عزت دې ښار ته راوړي. ۲۷ خو هیڅ ناپاکه شیان به
دې ښار ته ورننوتلی نه شي او نه به هغه څوک چې د کرکې وړ
کارونه کوي او نه دروغجن خلک. یوازې هغه کسان به هغه ښار ته
ورننوځي چې نومونه یې د وري د ژوندون په کتاب کې لیکل شوي
دي.

## ۲۲

۱ بیا فرښتې ماته د ژوندون د اوبو سیند وښوده چې د
بلور په شان ځلیده او د خدای او وري د تخت څخه بهیده ۲ او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښار د لوی سرک له منځ نه تېرېده. د سیند په دواړو غاړو کې د
ژوندانه ونه وه چې په کال کې به يې دولس ډوله مېوه نیوله او هره
میاشت کې به يې یوځل. د دې ونې پاڼې د قومونو د علاج دپاره
وې. ٣ په هغه ښار کې به نور داسې شی نه وي چې د خدای
لعنت ورباندې وي. د خدای او ورې تخت به په هغه ښار کې وي او
د خدای خدمتګاران به د خدای عبادت کوي. ٤ هغوی به هغه
مخامخ ويني او د هغه نوم به د هغوی په تندیو باندې لیکل شوی
وي. ٥ هلته به نوره شپه نه وي او هغوی به د څراغ یا لمر رڼا ته
اړتیا نه لري، ځکه څښتن خدای به د هغوی دپاره رڼا وي او هغوی
به تل ترتله هلته پاچاهي کوي.

## د عیسی راتلل

٦ بیا فرښتې ماته وویل: «دا خبرې د باور وړ او رښتیا دي.
څښتن خدای چې خپلو پیغمبرانو ته الهام ورکوي، خپله فرښته
رالېږلې ده چې خپلو خدمتګارانو ته هغه شیان وروښايي چې ډېر زر
به پېښ شي.»

٧ عیسی مسیح وايي: «واورئ، زه زر درځم، بختور دی هغه
څوک چې د دې کتاب پېشګویانې او پیغامونه مني.»

٨ زه یوحنا هغه څوک یم چې دا شیان مې واورېدل او ومې لیدل.
څنګه چې مې دا شیان واورېدل او ولیدل، نو د هغې فرښتې په پښو
کې چې دا شیان يې راته ښودلي وو، پرېوتم چې سجده ورته وکړم.
٩ خو هغې ماته وویل: «داسې مه کوه! زه خو ستا او ستا د ورونو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يعنې پيغمبرانو او هغو کسانو په شان چې د دې کتاب پيغامونه مني، د
خدای يوه خدمتګاره يم. يوازې د خدای عبادت کوه.»

١٠ بيا هغې ماته وويل: «د دې کتاب پېشګويانې او پيغامونه مه
پټوه، ځکه چې هغه وخت نژدې دی چې دا شيان به پېښ شي. ١١
پرېږده چې بدکاران خپل بد کارونه وکړي او فاسد خلک خپل فساد
ته دوام ورکړي، عادلان دې خپلو نېکو کارونو ته دوام ورکړي او
سپېڅلي خلک دې سپېڅلي اوسي.»

١٢ عيسی وايي: «واورئ، زه زر درځم او د ځان سره به هرچا ته
د هغه د عملونو سره سم اجر او بدل ورکړم. ١٣ زه الف او يا يم،
زه اول او اخر يم، زه شروع او پای يم.»

١٤ بختور دي هغه خلک چې خپلې چپنې پاکې ووينځي، ترڅو د
دې حق ولري چې د ژوندانه د ونې مېوه وخوري او وکولای شي
چې ښار ته د دروازو له لارې ورننوځي. ١٥ خو سپي، جادوګران،
زناکاران، قاتلان، بت‌پرستان او دروغجن خلک به د ښار څخه
دباندې پاتې وي.

١٦ «ما عيسی خپله فرښته تاسو ته درولېږله چې کليساګانو دپاره
دا پيغام ورسوي. زه د داود د نسل څخه يم او د سهار ځلېدونکی
ستوری يم.»

١٧ روح القدس او ناوې عيسی ته وايي: «راشه!» او څوک يې چې
اوري، هغه دې هم ووايي: «راشه!» څوک چې تږی وي، هغه دې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راشي، او څوک چې د ژوندون اوبه غواړي، هغه دې دا اوبه لاسته
راوړي، ځکه چې وړيا دي.

۱۸ زه يوحنا هر هغه چاته چې د دې کتاب پېشګوياني او پيغامونه
اوري، خبرداری ورکوم چې که چېرې څوک د خپل ځان نه په هغه
کې کوم شی ورزيات کړي، نو خدای به هغه بلاګاني چې په دې
کتاب کې بيان شوې دي، د هغه په سر باندې راولي. ۱۹ او که
څوک د دې پېشګويانو او پيغام څخه کوم څه کم کړي، نو خدای به
هغه د ژوندانه د ونې او سپېڅلي ښار نه چې په دې کتاب کې بيان
شوي دي، بېبرخې کړي.

۲۰ هغه څوک چې د دې ټولو شيانو په هکله شاهدي ورکوي،
وايي: «هو، زه زر درځم!» امين، ای څښتنه عيسی، راشه! ۲۱ په
تاسو ټولو باندې دې د څښتن عيسی فضل وي.

تاسو پوښتني لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.